# د یزید بن معاویه خلافت

# لړ لیک


د یزید بن معاویه خلافت........................................................٤
د خلافت د ټکي پیژندنه........................................................٧
د خلافت شرطونه ........................................................٩
د خلافت بل کس ته د بدلیدو طریقه........................................١٢
د خلفای راشدینو خلافت ته د رسیدو شرطونه او طریقه.................١٥
یزید بن معاویه او د خلافت شرطونه ........................................١٧
د یزید عدالت........................................................١٧
د هغه د تربیت ځای او چاپیریال ........................................١٨
یزید او د ابوسفیان فکري میراث ........................................٢٠
ړنګا او په ابوسفیان او معاویه لعنت........................................٢٥
تیاره انجام........................................................٢٦
څرګند حکم ........................................................٢٧
نوري بیلګې ........................................................٢٨
امام علی(ع) او د معاویه پیژندګلو........................................٢٨
معاویه د امام حسن(ع) له نظره ........................................٣٠
معاویه او د سفیاني لاري ادامه........................................٣٠
د یزید د ځوانۍ دوران........................................................٣٣
د بني کلب یوې جینۍ سره د یزید واده ........................................٣٤
د یزید څرګند فسق او فساد ........................................٣٥

د مدينې د استازو ګواهي........................................................۳۷
د عاشورا د پاڅون د مخالفانو له خوا د يزيد د فسق يقين................۳۸
د يزيد کفر..................................................................................۴۱
يزيد او د خلافت نورې بيلګې.......................................................۴۲
ضروري فقاهت ...........................................................................۴۳
د خلافت د بدليدو طريقه ............................................................۴۴
د يزيد د ولي عهد شونې څرنګوالې ...............................................۴۶
1. ايا معاويه بن ابوسفيان، د مسلمانانو شرعي او قانوني خليفه و چې
د هغه خليفه جوړل شرعي وي او سيرت او سنت وي؟........................۴۶
2. ايا د يزيد په خلافت ټاکل اسلامي طريقې سره وشو او ورپسې خلکو
بيعت وکړ چې هغه ته خليفه ويل صحيح وي؟..................................۴۷
معاويه او دوه سويز سياست.........................................................۴۹
1. د رعب او مړه ولو طريقه؛ ...........................................................۴۹
2. د تمې او مال ورکولو طريقه؛ .......................................................۵۲
د معاويه په ژوند کښې اخرنۍ هڅې..............................................۵۶
امام حسين(ع)، د مخالفت له ټولو لوي اړخ ..................................۵۸

# د یزید بن معاویه خلافت

د یزید بن معاویه حاکمیت ته د "خلافت" عنوان ورکول یو له هغه مسلو دے چې د اهل سنتو تر مینځ په کښې ډېر اختلاف دے. د اهل سنتو پوهان چې کله د حسیني انقلاب د تاریخ په څېړنه بوخت شوي دي، نو د یزید په حاکمیت، د هغه د مشروعیت او شرعیت په هکله یې فکر کړے او د هغې په هکله یې څېړنه او فصیله کړې ده.

ځینو په کښې له اوله، له پیغمبره وروسته اسلامي خلافت هماغه څلورو خلیفه ګانو او له هغوي وروسته امام حسن(ع) سره خاص کړے دے او له امام حسنه وروسته یې په دې کښې هر ډول پراختیا مردوده ګڼلې ده. د دې نظریې منونکیو د پیغمبر(ص) حدیثونو او د اصحابو او تابعینو حدیثونو سره دلیل راوړے دے لکه څه رنګ چې سیوطي لیکلي:

ابن ابي شیبه په المصنف کښې له سعید بن جمهانه نقل کړي دي چې وایي: "سفینه" ته مې وویل: بیشکه چې بني امیه دا فکر کوي چې خلافت د هغوي حق دے. هغه وویل: د زرقا زامن (بني امیه) دروغ وایي. هغو شاهان دي یو خاص ډول شاهان، او لومړنې شاه یې په خپله معاویه و.[1]

د دې ډلې په مقابله کښې د اهل سنتو ځینې پوهان چې خلافت یې د زمانې له نظره محدود نه دے ګڼلې، د یزید بن معاویه د خلافت په مشروعیت ټینګار کوي او د یزید لپاره د خلافت شرطونه پوره کوي او د خلکو بیعت سره یې تاییدوي. دا ډله باوري ده چې د مسلمانانو بیعت په جمع سره یزید سره وشو او بې له کمو کسانو هغه سره مخالفت ونه کړ او لومړي بیعت کوونکي یې د شام خلک وو یا د هغه ښار مشران وو. بیا په دې بیعت کښې د ګیر چاپیر خلک هم شامل شو او دا خبره ابن خلدون هم

---

۱. عبدالرحمان سیوطي، تاریخ الخلفاء،

قبوله کړې ده په هغه ځای کښې چې د یزید ولي عهدي يې د معاويه له خوا توجیه کړې ده او وایي چې معاويه له دې سببه د یزید د ولي عهدۍ اعلان وکړ چې خلک هم د یزید په هکله يوه خُله وو او هغه مشران چې دې وخت کښې د امويانو له کورنۍ ګڼل کیدل، ټول د یزید په ولایت عهدۍ باندې متفق وو او بې له یزیده يې بل کس د خلافت لپاره نه قبلاوۀ.[۲] د تاریخ الامم الاسلامیه لیکوال هم د تخطئة تصمیم امام حسين(ع) تر عنوان لاندې، د یزید په خلاف د امام حسین د پاڅون غلطۍ، کښې لیکلي: "امام الحسين فانه خالف على يزيد و قد بايعه الناس و لم يظهر منه ذالک الجور و لا عند اظهار الخلاف"[۳] او له دې هم زيات په ځرګنده يو بل کس چې محمد عزة دروزه نامه لري، د یزید د خلاف او د کربلا د انقلاب د سپکاوي په هکله وایي: د امام حسين(ع) وتل په حقیقت کښې د یزید بن معاويه د خلافت چلنج کول وو هغه خلافت چې په بیلا بیلو ښارونو کښې د خلکو بیعت سره تاييديدۀ چې په هغو کښې يو عراق يادولې شو". دا لیکوال په ادامې کښې د یزید مخالفت مشروع نه ګڼي او لږ نور هم ورتیر شوے دے او وایي چې امام حسين(ع) هم له هغه کسانو وو چې یزید سره يې بیعت کړے و او د هغه د خلافت اعتراف يې کړے و. او بیا داسې استدلال راوړي:

حسين بن علي(ع) د یزید بن معاويه په خلافت، چې د خلکو بیعت سره تاييديدۀ، اعتراف کوي او کله چې امام حسن له معاويه سره صلح کوي او امام حسن او ورونه يې معاويه سره بیعت کوي (په دې طریقه د معاويه خلافت مشروعیت وموندہ). دا په داسې حال کښې دي چې اما حسين(ع)

---

۲ . عبدالرحمان ابن خلدون، مقدمه ابن خلدون، د محمد پروین گنابادی ترجمه ، 403مخ.

۳ . الشیخ محمد الخضری، تاریخ الامم الاسلامیه، ټوک 2، 129 او 130مخ.

په دې اعتراف کوي چې د یزید بن معاویه خلافت د هغه د پلار په شان مشروعیت لري... خو دا خبره چې امام حسین(ع) په خپله یزید سره بیعت نه دے کړے او هغه پیغمبر(ص) سره تړون لري او ځان د خلافت لپاره له یزیده زیات حقداري او د فضیلت خاوند ګڼي، دا په خپله د یزید په خلاف یو ډول خروج او د بیعت ماتول ګڼل کیږي.[۴]

یو له هغه کسانو چې په دې اخر کښې همدې نظر ته ګروهنه لري، ډاکټر ابراهیم علي شعوط د ے هغه د دې لپاره چې د یزید خلافت مشروع وګڼي او د کربلا د انقلاب مشروع مباني ضعیف کړي دا سې لیکي:

اولا، یزید بن معاویه خلیفۀ بایعه المسلمون فی العاصمۀ الکبری للمسلمین و هی دمشق التی حلت المدینۀ و انها یقومون الان مقام اهل الحل و العقد من المهاجرین والانصار...[۵].

(د هغه کسانو په باره کښې چې د کربلا انقلاب نه تاییدوي) لومړنۍ دلیل دا د ے چې یزید بن معاویه خلیفه و او د مسلمانانو په هغه وخت کښې لوی مرکز (دمشق) هغه سره بیعت کړے و. دمشق د مدینې په ځای و او د هغې اوسیدونکي اهل حل و عقد (مشران) و د مهاجرو او انصارو په شان وو.

یو بل لیکوال، له دې هم وړاندې تلے د ے، او د دې انکار یې کړے د ے چې اهلبیتو یزید سره مخالفت نه د ے کړے او د هغه په خلاف یې خروج هم نه د ے کړے.[۶]

د دې لپاره چې د دې موجودو لیکلو په مطلب ښه پوه شو او حقیقت ته ورسو باید د خلافت ټکې ښه په علمي توګه وڅیړو چې کوم بیا بیا د اهل سنتو په تاریخ او فقه سیاسي کښې استعمال شوے د ے. نو کله چې دا

۴ . محمد عزة در وزة، تاریخ الجنس العربی، 8ټوک ، 387 - 382مخ.

۵ . ابراهیم علی شعوط، اباطیل یجب ان تمحی من التاریخ، 247مخ.

۶ . أ.د. محمد ابراهیم، براءة یزید بن معاویه من دم الحسینعلیه السلام، مخ 23.

روښانه شو نو بیا هغه متنونه او تاریخي پېښې بیانوو چې انکار ترې نه شي کیدی او د یزید خلافت ته د رسیدو طریقه او همدارنګ هغه ته د خلافت د ټکي نسبت ورکول او همدارنګ د اسلامي خلافت شرطونه بیانوو، د هغه شخصیت او فکرونه به څیړو او حقیقتونه به له جعلي لیکنو بیلوو.

## د خلافت د ټکي پیژندنه

په تاریخي کتابونو کښې د خلافت او خلیفه د ټکي تعریف او پیژندګلي نه ده شوې او یوازې مصداقونه، صفتونه او د هغوي د خلافت وخت بیان شوے دے او د خلافت تعریف نه کول کیدی شي ډېر سببونه ولري چې یو یې دا دے چې تعریف یې روښانه دے نو بیان ته ضرورت نه لري. په حقیقت کښې تاریخ لیکونکیو د پیغمبر(ص) ژوند لیک بیانولو نه پس د خلیفه ګانو د ژوند لیک په بیانولو شورو شو. هغوي د هجرت له یوولسم کاله د علي(ع) تر خلافته یا د امام حسن تر خلافته او یا ځینو د بغداد تر ماتې (657هـ) پورې د خلافت موده ګڼلې ده او د اسلامي نړۍ حاکمان یا یې د هغوي لویه برخه چې اکثر یې په دمشق کښې اباد وو د مسلمانانو خلیفه ګان ګڼلي دي.

د خلیفه د ټکي د پیژندګلو په هکله بله نکته دا ده چې په ادبي کتابونو کښې یې د لغت له مخې او په سیاسي فقهې کښې یې د اصطلاح له مخې وپیژنو چې د مسلمانانو تر مینځ له پخوا تر اوسه ورته دومره پام نه دے شوے. د اهل سنتو عالمانو د تل لپاره دربار سره د تړون په سبب، له نورو فرقو وړاندې په سیاسي فقه لیکلو بوخت شوي دي چې په هغو کښې یو څیز د خلافت او خلیفه تعریف دے چې په دې هکله یې هم نظرونه وړاندې

کړي دي چې دومره زيات اختلاف په کښې نه ليدل کيږي.

خلافت د لغت له مخې، ځای ناستي، پيشوا او امام ته ويل کيږي او د اسلامي فقيهانو او د ځينې تاريخ ليکوالانو، چې دربار سره تړلي وو، ترمينځ دا رنګ پيژندلے شوے دے: "خلافت يعنې د پيغمبر(ص) په نيابت کښې د دين او دنيا په چارو کښې عامه مشري"[۷]. له ځينې نورو کسانو له تعريفه دا په لاس راځي چې "خلافت يعنې د دين په ساتلو کښې د پيغمبر جانشيني په دې طريقې سره چې په نورو باندې ضروري وي چې پيروي يې وکړي".[۸]

ابوالحسن ماوردي د خليفه په تعريف کښې وايي: "الامامة موضوعة لخلافة النبوة فی حراسة الدين و سياسة الدنيا".[۹] چې په حقيقت کښې تير تعريف سره بې له الفاظو څه فرق نه لري. د اسلامي تاريخ ليکوالانو تر مينځ، عبدالرحمان بن خلدون د ديني نظره د دې ټکي تعريف ته پام کړے دے او ويلي يې دي: "خلافت، په حقيقت کښې د دين د حفاظت لپاره د شريعت د خاوند جانشيني او د دين پر اساس د دنيا د سياست سمول".[۱۰] په ټول کښې ويلې شو: خلافت، د اسلام د دين حفاظت، پراختيا او تفسير او د مسلمانانو د چارو د اسلامي حکمونو او نظريو پر اساس سمولو ته وايي.[۱۱]

---

۷ . مواقف، 603مخ.

۸ . ابويعلی ماوردی، الاحکام السلطانيه فی ولايات الدينيه، 29مخ.

۹ . ابوالحسن ماوردی، الاحکام السلطانيه فی ولايات الدينيه، 29 مخ.

۱۰ . هماغه.

۱۱ . آيت الله جعفر سبحانی هم خلافت او امامت مترادف ګڼلي دي، او د اسلام له نظره د مشر په معنی کښې بيان کړے دے. (پيشوايی از نظر اسلام، 17 – 7 مخ)

# د خلافت شرطونه

له دې وروسته چې د خلافت معنی د اهل سنتو له نظره روښانه شوه، نو دې ځای کښې د خلافت شرطونه بیانول مناسب دي. باید وکتلې شي چې کوم شرطونه او بیلګې ضروري دي چې یو کس خلافت ته ورسي او اسلامي خلافت د هغه لپاره په ځای او مشروع وي. نو که په یو کس کښې له هغو شرطونو یو یا څو شرطونه نه وي نو هغه ته خلافت نه رسي او که د خلافت دعوا وکړي یا یې په زور لاس ته راوړي نو هغه اسلامي خلیفه نه شي کیدے.

د اهل سنتو هغو کتابونو او سرچینو ته چې د اسلامي خلافت په هکله لیکلي شوي دي، په یوې لنډې کتنې کښې داسې په لاس راځي چې هغوي خلافت ته داسې نظر نه کوي چې له اوله قران او سنت ته مراجعه وکړي او له هغې یې شرطونه وګوري او بیا د هغې په رڼا کښې خلیفه ته وګوري، بلکې اول یې په ذهن کښې خلیفه ګان شته او بیا فیصله کوي. یعنې داسې نه کوي چې د خلیفه په هکله یو علمي او روښانه بحث وکړي او همدارنګ له یو خلیفه بل خلیفه ته د حکومت د اوړیدو په هکله هم باید دا پوښتنه وکړو چې په اسلامي تاریخ کښې د خلافت دعوا کوونکیو ته خلافت رسي او که نه، ایا هغوي د هغه معیار او تلې مطابق دي چې په قران او حدیث کښې بیان شوې ده که نه؟

د اهل سنتو عالمانو د خلفای راشدینو سیره له دې سببه د ځان لپاره حجت او دلیل ګرځولے دے چې وایي له هغوي ګناه نه کیږي. او د هغوي د حکومتدارۍ طریقه او د هغوي بیلګې او د حکومت د بدلیدو طریقه دا ټول یې د شرعي شرطونو په توګه قبول کړي دي. هغه شرطونه چې د اهل سنتو پوهانو د خلیفه ګانو بیلګو ته په پام سره راوړي دي او په خپلو کتابونو کښې یې لیکلي دي بیلا بیل دي. په هغو کښې په ځینو کښې

اختلاف دے لکه قریشي شونه وغیره او په ځینو شرطونو ټول یوه خُله دي چې په لنډه توګه یې دلته بیانوو:

الف) عدالت: دا اصل ټول اهل سنت عالمان قبلوي او د اهل سنتو فقیهان او تاریخ لیکوالان د خلافت لپاره عدالت شرط ګڼي او هغه کس چې فاسق وي هغه د دې وړ نه ګڼي چې په مسلمانانو دې په دین او دنیا کښې خلافت وکړي. خو د دې اصل د بیانولو طریقه د پوهانو تر مینځ یوه نه ده. د مثال په توګه، ابویعلي دا شرط د دویم شرط په توګه "و امام اهل الامامۂ فیعتبر فیهم اربع شروط" تر عنوان لاندې بیانوي او ویلي یې دي: "د امامت او خلافت د وړتیا لرونکیو لپاره دویم شرط دا دے چې دومره توان ولري چې قضاوت کولې شي، یعنې ازاد، بالغ، عاقل، عالم او عادل وي.[۱۲] هغه په څلورم شرط کښې هم دې وړتیا ته اشاره کوي او وايي: "څلورم شرط دا دے چې امام او خلیفه، په علم او دین کښې له ټولو زیات فاضل اوعالم وي"[۱۳] ماوردي هم "د امامت د وړتیا" په شرطونو کښې لیکي: "و امام اهل الامامۂ فاشروط المعتبر فیهم سبعۂ. احدها العدالۂ علی شروطها الجامعۂ".[۱۴]

نور کسان هم د خلیفه او د مسلمانانو د امام لپاره دعدالت شرط لازم ګڼي. دا ډله که څه اختلاف لري نو هغه په نورو شرطونو کښې دے لکه د میړنتیا، قریشیت، صحت نظر او نور خو په عدالت کښې څه اختلاف نه لري. ابن خلدون هم عدالت د خلیفه لپاره لازم ګڼي وايي: "د عدالت شرط یو داسې شرط دے چې امامت یو دیني مقام دے او په هغه ټولو مقامونو باندې نظارت لري چې عدالت په هغو کښې شرط دے نو د امامت لپاره

---

۱۲. الاحکام السلطانیه، 20مخ ؛ مأثر الانافه فی معالم الخلافه، 1ټوک ، 39 - 31 مخ ؛ روض الطالبین، 45مخ.

۱۳. هماغه.

۱۴. الاحکام السلطانیه، 31مخ ؛ نظام الاسلام، 61 او 64 - 63 مخ.

د عدالت شرط کیښودل به په سر کښې صحیح وي" هغه چې کله د یزید د خلافت بحث ته راځي نو وایي: کله چې معاویه یزید د خلافت لپاره ولي عهد جوړاوۀ او د هغه لپاره یې بیعت اخسته نو معاویه ته د یزید د فسق پته نه وه هغه وایي: "د معاویه په هکله دا ګمان ونه کړې چې هغه ته د یزید د فسق پته وه. ځکه چې معاویه ډېر عادل دے او مقام یې له دې خبرو لوړ دے"[۱۵]

هغه خبره چې مخ ترې نه دي اړول پکار هغه دا ده چې ځینې عالمانو جامع عدالت بیان کړے دے او ځینو عدالت، دیندار شونې سره بیان کړے دے چې مطلب یې دا دے چې په دواړه معنو سره په کښې عدالت وي: 1. په کس کښې داسې طاقت شونه چې هغه له کبیره ګناهونو وساتي او د صغیره ګناهونو له تکراره یې وساتي؛ 2. خلکو سره عدالت او انصاف کول، او له دې دواړو یو کفایت نه کوي.

ب) فقاهت: د فقاهت په شرط هم اسلامي عالمان په بیله توګه په اهل سنت یوه خُله دي چې وړاندې ورته اشاره وشوه یو پوهان د فقاهت حد بیان کړ او وېې ویل باید خلیفه تر دومره حده علم او ولري چې په خلکو کښې له ټولو لوړ وګڼل شي او د قضاوت مقام ته ورسي. خو نورو دا رنګ بیان کړے دے: "العلم المؤدی الی الاجتهاد فی النوازل والاحکام".[۱۶] او جرجاني هم د قاضي عضدالدین ایجی د کتاب مواقف په شرحې کښې وایي: "جمهور فقیهان دا نظر لري چې هغه کس د خلکو ولایت په غاړه اخستې شي چې په اصولو او فروعو کښې مجتهد او فقیه وي".[۱۷] په محققانو

۱۵ . هماغه، 212مخ.

۱۶ . الاحکام السلطانیه، مخ 31؛ مأثر الانافه، 1ټوک ، 37مخ.

۱۷ . مشروح مواقف جرجانی، 8ټوک ، 349مخ ؛ امام الشافعی، الفقه الاکبر، 39مخ.

کښې يو کس چې په دې هکله يې ډېر تحقيقات هم کړي دي، هغه د امام او خليفه لپاره د فقاهت شرط داسې ګڼي چې د ټولو پرې اتفاق دے او ټينګار کوي:
د يو حکومت د شرعي شونې لپاره د اهل سنت او اهل تشيع له نظره يقيني شرط دا دے چې فقيه د هغه حکومت په سر کښې وي. د اهل سنتو جمهور عالمان په دې خبره تصريح کوي او د بيعت او خلافت د صحيح شونې لپاره د فقاهت شرط ضروري ګڼي. امام الحرمين جويني په خپل مشهور کتاب الاحکام السلطانيه کښې په دې مطلب تصريح کوي... په دې هکله د اهل سنتو د فقيهانو خبرې ډېرې دي خو ما له هغو خبرو ځينې خبرې په ولاية الامر کتاب کښې په 106 تر 108 مخونو راوړي دي.[١٨]
ج) نور شرطونه: لکه څه رنګ چې اشاره وشوه، دا هغه ټول شرطونه نه وو چې د خلافت د مقام لپاره ضروري دي، مسلمانانو عالمانو نور شرطونه هم بيان کړي دي لکه: نارينه شونه، ميړنتوب، تدبير او سياست، جسمي او رواني سلامتي او داسې نور چې دلته ترې مونږ بحث نه کوو ځکه چې مطلب اوږدول نه غواړو. او زمونږ له بحثه وتي دي.

## د خلافت بل کس ته د بدليدو طريقه

د خلافت په هکله يو له هغه څيزونو چې د اسلامي عالمانو او په بيله توګه د اهل سنتو يې ځان ته پام کړے دے، هغه دا دے چې له يو خليفه بل ته د خلافت بدليدو طريقه او مشروع والې څنګه دے. په دې هکله ځينو ليکلي شويد سرچينو کښې دا مطلب د "وجوه انعقاد امامت" تر عنوان لاندې بيان شوے دے. په دې بحث کښې يې د خلافت بل کس ته د بدليدو شرطونه له کمي او کيفي مخې بيان کړي او په دې هکله يې بيلا

---

١٨ . محمد مهدی آصفی، مجله پژوهش و حوزه، 77 - 76 مخ.

بیل نظرونه راوړي دي چې د تیر موضوع په شان په کښې ځینې شرطونه اختلافي او ځینې په کښې اتفاقي دي.
په ټول کښې د خلافت د بدلیدو طریقې په دوه ډوله ویشل کیږي چې هره طریقه ځانته خپل شرطونه او بیلګې لري:
الف) د تیر خلیفه او امام ټاکل: اهل سنت، خلافت ته د رسیدو یوه مشروعه لاره د تیر خلیفه ټاکل ګڼي. هغوي د دې کار د جایزیدو لپاره د لومړي خلیفه دویم خلیفه مقررول دلیل راوړي. همدارنګ دویم خلیفه هم وصیت وکړ چې شپږ نفري شورا دې جوړه شي، چې په هغه پسې د خلیفه ټاکو کار ترسره کړي، اهل سنت د خلفاو دا کارونه د دې دوو طریقو په مشروعیت دلیل ګڼي.
ب) د حل و عقد څیښتنو (مشرانو) ټاکل: دویمه لاره چې ورسره خلیفه ټاکل کیږي او بل کس ته خلافت بدلیږي هغه د حل و عقد څیښتنانو (مشرانو) ټاکل دي، هغه کسان د رتق او فتق په توګه هم یاد شوي دي، یعنې د اسلامي امت هغه مشران چې له سیاسته خبرې دي او د هغوي رضایت پسې د عوامو رضایت هم وي. دا ډله کولې شي چې د عوامو فکر ته وګوري او له هغوي نماینده او استازې شي.
د اهل سنتو په کتابونو کښې په دې خبره کښې ډېر اختلاف دے چې د دې کسانو شمیر څومره پکار دے چې عام خلک راضي کړې شي. ځینې کسان دا وایي چې د اختلاف ختمولو لپاره د هر یو ښار د مسلمانو مشرانو اتفاق ضروري دے "چې د دغه کسانو اتفاق سره عمومي رضایت په لاس راشي او امام او خلیفه په اجتماعي توګه وټاکل شي"[۱۹] د دوي په مقابله کښې هغه کسان دي چې د لومړي او دویم او دریم خلیفه خلافت ته پام یې دا شرط رد کړے دے او هغه یې تر دوو ګواهانو "لکه په نکاح

۱۹ . الاحکام السلطانیه، 33 او 34 مخ.

کښې چې دوه ګواهان وي"[٢٠] راکوز کړے دے. تر دې حده چې دا هم نقل شوي دي چې د يوۀ ټولي بلکه د يوه کس چې مشر وي د هغه نظر هم د خليفه جوړيدو لپاره بس دے![٢١]

ځينې کسان له دې خبرو په امان دي، او "شوکت" ټکي ته يې پناه وړې ده هغوي له ټولو زيات مهم شرط چې "اهل شوکت" دے د هغوي راى يې د خلافت لپاره کافي دا او په دې نظر د اهل سنتو اتفاق دے:

امامت د اهل سنتو په نزد د اهل شوکت په رضايت سره جوړيږي او يو کس هم د امامت مقام ته نه شي رسيدلے مګر دا چې اهل شوکت يې ورسره ومني او مثبت راى ورکړي ځکه چې د هغوي منلو سره دامامت غرض او مقصد ترسره کيږي. د امامت مطلب، د قدرت او سلطنت په لاس اخستلو سره حاصليږي. نو کله چې بيعت په لاس راغے، نو قدرت او سلطنت ورته اسان شي او ټاکلې شوې کس امام شي.[٢٢]

دا څرګنده ده چې کله د اهل حل و عقد موافقت په لاس راشي چې ورپسې عمومي موافقت هم وي نو دا يې ازاد موافقت او منل دي چې د عقل او خبرتيا سره سم دي، نو د امام شوي کس په ټاکلو کښې څه اجبار او زور نشته.

سره د دې ټولو خبرو، دا دوه طريقې سره جمع کولې شو، لکه د دې ليدتوګه منونکيو يوازې د تير امام ټاکل نه دي بيان کړي بلکې هغه يې د اهل حل و عقد په منلو سره بيان کړي دي، چې دا خبره د دې دواړو سره جمع کولو باندې ټينګار کوي. کوم دليلونه چې د هغوي په خبرو کښې موجود دي له هغې داسې په لاس راځي چې مهمه دا ده چې اهل حل وعقد

---

٢٠ . الاحکام السلطانيه، 33 او 34مخ.

٢١ . هماغه 34مخ ؛ ابوبکر بن العربی المالکی، العواصم من القواصم، 229مخ.

٢٢ . ابن تيميه منهاج السنة النبويه، 1ټوک ، 190 - 189 مخ.

یا خبرکسان ومني چې د هغوي منل د عامو خلکو منل څرګندوي او دا کار د خلافت د شرعي شونې سبب کیږي.
له دې وروسته چې د اهل حل و عقد کمیت(څومره والې) مو بیان کړې د دوي بیلګې او خصوصیات بیانول هم د څیړنې وړ دي. د دې ډلې په شرطونو کښې دومره څه اختلاف نشته او بیلا بیلو کتابونو د دوي درې شرطونه بیان کړي دي:

۱. عدالت سره د ټولو شرطونو
۲. هغه پوهه چې ورسره ټول شرطونه لرونکے امام وپیژندې شي.
۳. داسې نظر او حکمت ولري چې ورسره د امام سیاسي اړخونه وپیژني چې هغه کس د امامت زیات وړ، په عمومي مصلحتونو زیات پوه او د هغوي په ساتلو کښې له نورو زیات محکم دے.[۲۳]

دې شرطونو ته په پام او د هغوي بیلګو ته په پام د اهل حل و عقد پیژندګلو وشوه. د هغوي نظر او منل شرعي اثر لري. باید اهل شوکت شونه هم په ادامه کښې ورسره کړو ځکه چې که اهل شوکت نه وي نو بیا د زور ویونکیو لپاره لاره پاتې کیږي چې په لوټ مار سره حکومت په لاس کښې واخلي.

## د خلفای راشدینو خلافت ته د رسیدو شرطونه او طریقه

لږ تر لږه د اهل سنتو په نظر کښې خلفای راشیدینو له بیلا بیلو اړخونو د اسلامي خلافت شرطونه لرل، او د اسلام له نظره په شرعي طریقې یې خلافت لاس ته راوړې و. د اهل سنتو په نظر کښې هغوي د عدالت ملکه

۲۳. الاحکام السلطانیه، 31 مخ.

لرله او په ټولنه کښې يې عدالت سره چلن کاوۀ او هغه بيلګې چې په حديثي، رجالي او تاريخي کتابونو کښې د هغوي لپاره بيان شوي دي هغه د دې خبرې څرګندوونکي دي.
له بل نظره، هغوي صحابه وو او د ډېرو اهل سنتو په نظر کښې د پيغمبر(ص) سره منسوب حديث "بايهم اقديتم اهتديتم" هغوي ته شامل و. او دا هماغه عدالت غوښته او خدايي تقوا وه چې له ځانه يې وروسته داسې کسان چې هغوي سره يې هيڅ قسم خپلولي نه لرله د خلافت لپاره وټاکل، يا يې د شپږو کسو شورا جوړه کړه د هغوي د فقاهت په هکله هم دا ووايو چې د اصحابو په وخت کښې اسلامي فقاهت په دريو برخو ويشل شوې و. چې د اهل سنتو له نظره عمر او علی(ع) په لومړۍ درجه کښې وو او ابوبکر اوعثمان يې په دويمه يا متوسطه درجه کښې وو.[۲۴]
له دې سببه چې اهل سنت د خلافت په هکله انفعالي دريځ لري (يعنې چې کوم څه شوي دي هغه سموي) نه فعال او انتقادي (چې اول دليل او صفتونه او شرطونه وګوري او بيا يې په هغه فرد کښې وګوري) نو دې ته مجبور دي چې د ښه عالم او فضيلت لرونکي باوجود کم فضيلته کس د خلافت لپاره کافي وګڼي او جامع الشرائط يې وګڼي. له همدې سببه د علی او عمر شتون سره بيا هم د ابوبکر خلافت مني او د علی شتون سره بيا هم د عثمان خلافت صحيح ګڼي او دا خبره بې اشکاله ګڼي. خو بيا هم خلفای راشديونو دومره فقاهت لرۀ چې کوم د يو اسلامي خليفه په شونې کښې شرط دے او له دې نظره هم د اهل سنتو په نظر کښې څه مشکل نه لري. که څه هم هغه تحقيقات او نظريات چې کوم وړاندې د خلافت لپاره بيان شول د يزيد او نورو خليفه ګانو چې په څلورمه او پينځمه پيړۍ کښې تير شوي دي، له وخته وروسته ليکل شوي دي.

۲۴ . احمد نعمتی، اجتهاد و سير تاريخی آن از ديدگاه اهل سنت، 169 مخ.

# يزيد بن معاويه او د خلافت شرطونه

له دې وروسته چې د اهل سنتو له نظره مطلب بیان شو اوس د دې ځای دے چې یزید ته د اسلامي خلافت، چې یو سیاسي او دیني مقام دے، د رسیدو شرطونه او ځرنګوالې وګورو، چې د ځینې اهل سنتو په نظر کېږي هغه د مسلمانانو خلیفه و او د هغه په خلاف پاڅون او هغه سره هر ډول مقابله خطا او بد کار ګڼل کیده، او تر دې چې ځینو کسانو د عاشورا انقلاب له همدې سببه غلط ګڼلے دے.

لکه څه رنګ چې اشاره وشوه، هغه مهم شرطونه چې د اهل سنتو له نظره یې یو خلیفه باید ولري او د خلافت دعوا لرونکے کس کېږي باید ثابت شي هغه دوه شرطونه دي: یو عدالت او بل فقاهت. دا دوه شرطونه هغه اساسي شرطونه دي چې ورسره هغه کس خلیفه جوړیدې شي او بې له دې شرطونو خلافت او سیاسي قدرت چې د هر چا په لاس کېږي له هرې لارې راشي او هرې طریقې سره چې هغه ته ورسي څه اثر نه لري؛ ځکه چې یو مشهور قول دے: "کله چې شرط نه وي نو مشروط (د څه لپاره چې شرط ایخې شوے دے) په خپله له منځه ځي". یا دا چې کوم کس عدالت او فقاهت نه لري، د هغه لپاره د خلافت عنوان داسې دے لکه "سالبه به انتفاء موضوع" یعنې کله چې موضوع نشته نو نسبت ورکول خو څه معنی نه لري.

# د یزید عدالت

ځرګنده ده چې د دې موضوع د ثابتولو لپاره به هم لکه د نورو مسلو د اهل سنتو تاریخي سرچینو ته مخه کوو. د یزید د ژوند، تربیت او خلافت

په هکله د اهل سنتو په کتابونو کښې ډېر مطلبونه راغلي دي او په دې ځای کښې داسې نه ده چې تاریخ چپ پاتې شوې وي یا یې په کښې هڅې پریخې وي. نو دې ځای کښې د دې موضوع څېړنه کوو:

## د هغه د تربیت ځای او چاپیریال

بیشکه چې د انسان په تربیت او اخلاق کښې د هغه د چاپیریال او دوستانو ډېر لوی رول وي او د هغه د شخصیت په جوړېدو کښې ډېر لوی اثر لري. له همدې سببه د عربۍ هغه مشهوره جمله به وو ایو چې "العلم فی الصغر کانقش فی الحجر" یعنې په وړوکوالي کښې زده کړه داسې وي لکه په کاڼي باندې کرخه، نو په وړکوالي کښې د کلتور، تربیت، او زده کړې اثر یو داسې څیز دے چې ټول خلک یې مني.
یزید د امام حسین(ع) په شان د خپلې کورنۍ د تربیت، تابع و او په فکر چال چلند کښې د خپلو نزدې او لرې خپلوانو سره لوی شو او د هغه شخصیت د هغو د خپلوانو د اثر لاندې جوړ او بشپړ شو. نو داسې اصل ته په پام چې منلې شوې دے اوس د هغه د تربیت تاریخ ته نظر کوو. یو اهل سنت تاریخ لیکوال د یزید او د کربلا د انقلاب په هکله څېړنه کړې ده او داسې لیکي:
په یو بل کتاب کښې چې د سموالمعنی فی سموالذات کښې (په تفصیل سره) مو دا بیان کړل چې یزید د مسیحیانو په کلتور او ادابو لوی او تربیت شو او له اسلامي زده کړو ډېر لرې و؛ ځکه چې یزید د مور له خوا (بني کلب) ته رسي چې دې قبیلې له اسلامه وړاندې عسایانو ته ګروهنه لرله نو په ټولنه پېژندنې کښې دا خبره طبیعي ښکاري چې یوه ټولنه له یوۀ فکره لرې کول ډېر وخت غواړي. له دې ورتیر ځینې تاریخ لیکوالان باوري دي او لیکلي یې دي چې د یزید ځینې استاذان هم د شام له

نسطوري عسایانو وو.[۲۵]
هغه په ادامې کښې وايي: کله چې دې خبرې ته ورسيدو چې يزيد د ژوند په دې پړاو کښې په بني کلاب کښې په هر قيده په ازادۍ سره خپله ځواني شورو کړې ده، نو دې نتيجې ته رسو چې د هغه کړه وړه له هغه څه چې په تاريخ کښې نقل شوي دي زيات خطرناک وو.
له هغه ځيزونو چې په دې موضوع کښې دخالت لري هغه پيښې دي چې په تاريخ کښې راغلي دي:
تاريخ ليکوالانو ليکلي دي چې يزيد په شرابو څښلو مشهور شوے و او سپو سره به يې لوبې کولے او ديني حکمونو ته به يې سپک کتل.[۲۶]
حقيقت دا دے چې د يزيد بن معاويه بني کلب ته نسبت ورکول يوه نامعلومه او ضعيفه خبره وه چې د معاويه د حکومت په وخت کښې چې کله هغه لوی قدرت درلود، دا خبره په مسلمانانو پټه پاتې نه شوه. هغوي يوازې دا نه چې په دې خبره کښې يې شک او د يزيد د اسلامي ادابو او تربيت په هکله هم فکرمند و بلکې د معاويه نزدې کسانو او دوستانو چې يو پکښې سعيد بن عثمان و هغوي دا خبره په ډاګه کړې وه او د يزيد د وړتيا او راتلونکي وخت لپاره يې د پريشانۍ څرګندونه هم کړې وه. معاويه هم د هغوي دا خبرې نه وې رد کړې بلکې ويلي يې و چې له دې انکار نه شي کيدې.[۲۷]

۲۵ . الشيخ عبدالله العلايلي، تاريخ الحسين(ع) نقد او تحليل، 240-241مخونه.
۲۶ . هماغه، 242مخ، رک: الدميري، حياة الحيوان، 2ټوک، 270مخ، احمد بن يوسف القرماني، اخبار الدول، 130-131مخ.
۲۷ . محمد بن جرير طبري، تاريخ الامم والملوک، 3ټوک، 249مخ.

# يزيد او د ابوسفيان فکري ميراث

يزيد بن معاويه د پلار نيکه له خوا هم اسلام او د پيغمبر(ص) کورنۍ سره دومره مزبوتې اړيکې نه درلودې. د يزيد نيکه يعنې ابوسفيان بن حرب، د مکې له لويو تاجرانو او شته منو کسانو و، د اميه له نسله و چې د پيغمبر(ص) کورنۍ سره يې سخته دښمني وه. ابوسفيان اود هغه اولاد چې په هغوي کښې يو معاويه هم و د هجرت په اتم کال چې کله مکه د مسلمانانو په لاس فتح شوه او هغوي د تيښتې څه لار ونه مونده نو تسليم شو او د مسلمانانۍ دعوا يې وکړه. پيغمبر(ص) هم د خپل رحم او کرم له مخې ابوسفيان اود هغه ملګري چې د اسلام په خلاف يې ډېر جنګونه کړي وو، معاف کړل او ويې فرمايل: "انتم الطلقاء" تاسو ازاد يئ او له تاسو به انتقام وانه خستې شي. له همدې سببه به ابوسفيان او د هغه کورنۍ ته طلقاء ويل کيدل، نه مهاجر او انصار چې د مسلمانانو د اسلام له اوله دوه مشهورې ډلې وې.[28]

د تاريخ بيلا بيلې ګواهۍ، چې ابوسفيان او د هغه ملګرو به اسلام او د مسلمانۍ دعوې ته د يو چل په نيت کتل او له زړه يې اسلام نه و قبول کړې او تر اخري عمره له دې حاله نه و وتي، دليلونه يې دا دي:

الف) ابوسفيان د نورو قريشو غوندې له اوله د پيغمبر(ص) د اسلام دعوت اوريدلے و خو هيڅکله يې دې اړخ ته کومه ګروهنه او ميل څرګند نه کړ او تل په دې کوشش کښې و چې د خداى دا نور په څه طريقه مړ کړي که هغه د پيغمبر(ص) په وژنې سره ولې نه وي. هغه د اسلام په لومړيو کښې پيغمبر(ص) سره ډېر جنګونه وکړل چې دا دين د تل لپاره ختم کړي. لکه د بدر، احد، احزاب او داسې نور جنګونه چې نيغ په نيغه د ابوسفيان

---

۲۸ . نهج البلاغه، 28ليک، مقريزي الشافعي، النزاع و التخاصم فيما بين بني اميه و بني هاشم، د محمد عرنوس خيړنه، 52مخ.

په مشرۍ کښې ترسره شول. هغه چې دومره مسلمانانو ته نقصان ورکړ او جنګونه يې پرې وتپل همدارنګ په خپل جاهلي او قبيله اي فکر يې ټينګار کاوۀ او خپلو زړو باورونو او عقيدو باندې يې له زړه ايمان لاره. نو داسې کس لپاره ممکنه نه ده چې د مکې په فتحې کښې چې يې نور څه وس پاتې نه شي نو ناڅاپه اعلان وکړي چې زۀ مسلمان شوم او له خپل جاهلي کلتور د اسلام دې پاک دين ته راواوړي.[۲۹]
هغه د مکې په فتحې کښې نه يوازې دا چې اسلام سره يې د مينې ثرګندونه کړې وي بلکې هغه ماتې په بيلا بيلو جنګونو کښې يې له پيغمبر(ص) خوړلې وې هغو ته په پام يې پيغمبر(ص) کينه نوره هم زياتيده او د حسد او انتقام په اور کښې سوزيده. له همدې سببه د هغه اسلام قبلول د فکري بدلون نښه نه وه بلکې د خپل انتقام اخستلو د لارې او چل بدلولو نښه وه او دا خبره ټولو ته ثرګنده وه.[۳۰]
ب) د اسلام په خلاف به له بيلا بيلو عواملو له خوا د هغه ملاتړ کيده لکه له هغوي يوه د هغه ښځه وه چې ښځهٔ بر اثر هم لري. هنده چې د ابوسفيان ښځه وه د بدر په جنګ کښې خپل پلار ورور او تره له لاسه ورکړي وو اود هغه کينې پر اساس چې اسلام سره يې لرله، نو د پيمغمبر(ص) او د هغه د يارانو او خپلوانو وژل، لکه د حمزه او حضرت علی عليه السلام د وژنې لپاره يې بولې وکړه او اخر دا چې د يو مريي په لاس چې د احد په جنګ کښې حضرت حمزه شهيد کړ او له هغې پېښې وروسته د ځيګر خورې په نامه مشهوره شوه. نو د هغه دغه ښځه يو بل دليل دے چې هغه په خپل کفر خپلې کينې او انتقام باقي پاتې شي.
ج) يو له هغه خبرو چې د ابوسفيان او د هغه د ملګرو په کفر باندې د پاتې

---

۲۹ . هماغه.
۳۰ . هماغه، 29مخ، 31مخ.

کیدو دلیل کیدې شي، د مسلمانانو له خوا هغوي په طلقاء باندې مشهوریدل دي.[۳۱] دا خبره مونږ ته دا ښیي چې مسلمانان هم په دې وخت کښې غافل نه وو او له هغوي خبر وو. له همدې سببه دې ډلې په وروستنیو جنګونو لکه د حنین په جنګ کښې د ناظرانو په توګه ګډون وکړ نه د جنګیالانو په توګه او کیدې شي د مسلمانانود شکست په انتظار وې. او پیغمبر(ص) هم هغوي ته له جنګه وروسته د "تالیف القلوب" په توګه غنیمت ورکړه نه د حق لرونکیو په توګه.
د) ابوسفیان هم د مکې له فتحې وروسته او په بیله توګه د پیغمبر(ص) له وفاته وروسته داسې کارونه وکړل چې له هغې د هغه په خپل جهالت باندې پاتې کیدل څرګندیږي. لکه څه رنګ چې د سقیفې د غونډې د ترسره کیدو او د ابوبکر خلافت ته له رسیدو وروسته هغه مدینې ته راغے او ویې ویل: "زۀ یو داسې طوفان وینم چې له وینې پرته یې بل څه نه شي په قرارولے"[۳۲] بیا حضرت علي علیه السلام پسې ورغله او هغه یې پاڅون ته وهڅاوۀ او دا رنګ شعر یې ولوست:
اے د هاشم اولاده! پاڅئ چې د تیم قبیله (د ابوبکر قبیله) او عدي (د عمر قبیله) ستاسو حق ته په تمه نه شي. د خلافت حق خو ستاسو دے او له علي پرته یې بل څوک وړتیا نه لري. اے علي! د خلافت واګې په لاس کښې واخله، ځکه چې د خلکو د ارمانونو پوره کولو لپاره ته زیاته وړتیا لرې.[۳۳]
علي علیه السلام د ابوسفیان په حقیقي نیت ښه پوهیده ځکه چې هغه یې

۳۱ . هماغه.
۳۲ . ابن ابی الحدید، شرح نهج‌البلاغه، ټوک 2، مخ 44.
۳۳ . هماغه؛ مهدی پیشوایی، ریشه‌های تاریخی و زمینه‌های اعتقادی نهضت عاشورا، 2ټوک، 301مخ.

ښه پېژندۀ، نو ځواب يې ورکړ: ته يو داسې کار (فساد) پسې يې چې زۀ له هغوي نه يم. هغه حضرت په هغه ليکنه کښې چې په نهج البلاغې کښې راغلي دي، نه يوازې دا چې هغه يې له دې کاره ناهيلې کړ بلکې مسلمانانو ته يې هم د دا رنګ فتنو په هلکه خبرداري ورکړ.[۳۴]
هغه چې کله له حضرت علي ناهلې شو، نو د حضرت عباس بن عبدالمطلب د کور ور يې وواهه او د خپلې نقشې د عملي کولو لپاره يې ورته وويل: "ته د خلافت وړتيا لرې، او د خپل وراره ميراث باندې ډېر حق لرې، لاس دې راوړد کړه چې درسره بيعت وکړم، که زه درسره بيعت وکړم نو څوک درسره مخالف نه شي کولې". عباس وخنديد او ويې ويل: "ابوسفيانه! دا څه رنګ کيدې شي چې کوم وړانديز علي رد کړي هغه عباس قبول کړي؟"[۳۵] جوهري وايي: هغه علي ته وويل: د قريشو له ټولو بې توانه کورنۍ په تاسو باندې حکومت په خپل لاس کښې اخستے دے قسم په خدای که ته وغواړې نو زۀ خلک د ابوبکر په خلاف راپاڅوم او دا ښار به له پياده او سپرو سپايانو ډک کړم. علي ورته وويل: تا خو په کلونو د اسلام بدي کړې ده خو څۀ زيان دې ورته ونه رساوۀ، مونږ ته ستا د پيادوه او سپرو ضرورت نشته.[۳۶]
عمر هم د ابوسفيان او د طلقاء له ټولي خبر و او د هغه کړو وړو ته يې ښه پام کاوۀ. هغه به له سقيفې وروسته د ابوسفيان په هکله خپله پريشاني نه پټوله، لکه څه رنګ چې يې ابوبکر ته ويلي دي: "ابو سفيان (د زکات له جمع کولو) له سفره راستون شوے دے او زۀ د هغه له شره په امان کښې

---

۳۴ . نهج البلاغه، 5خطبه.

۳۵ . سيد على خان مدنى، الدرجات الرفيعه فى طبقات الشيعه، 87مخ ؛ عبدالحسين الامينى، الغدير، 10ټوک ، 84 - 80 مخونه.

۳۶ . شرح نهج‌البلاغه، ج2، 44او 45 مخ ؛ النزاع والتخاصم بين بنى اميه و بنى هاشم، 31مخ.

نه یم" ابوبکر دي خبرې ته پام وکړ او کوم زکات چې ابوسفيان جمع کړې و هغه يې هغه ته وبخښه چې بيا يې تاليف القلوب وشي او يا ورته د چپتيا حق ورکړي. او ابوسفيان هم له دې وروسته چپتيا خپله کړه.[۳۷]

ابوسفيان د عمر ابن خطاب د حکومت په زمانه کښې د ابوسفيان د زوي يزيد او د هغه له مرګه وروسته د معاويه د شام په حکومت باندې په ټاکلو باندې څه خبرې کړي دي چې تاريخ ليکي دي. دا خبرې او کارونه په ځرګنده توګه ښيي چې هغه په خپل جاهليت باقي و. هغه له دې وروسته چې خلافت عثمان بن عفان چې له امويانو و، ته ورسيد نو د امويانو يوه ناسته يې راوبلله او ويې ويل: "اوس چې کله حکومت ستاسو په لاس کښې راغلے دے نو د يو بال په شان يې يو بل ته پاس کوئ او دا کوشش وکړئ چې د اموي کورنۍ له لاسه ونه ځي. زهٔ قسم خورم په هغه چا چې په چا عقيده لرم چې نه خو خداى شته او نه څه حساب، نه جنت شته نه جهنم او نه څه قيامت"[۳۸] همدارنګ کله چې له احده تيريدهٔ نو د حمزه قبر ته يې لتې ورکولې او ويل يې: "د کوم څه لپاره چې زهٔ تاسو سره پرون په توره سره جنګيدم هغه نن زما د ماشومانو په لاس ورغلے دے او ورسره لوبې کوي".[۳۹]

---

۳۷ . شرح نهج البلاغه، ج2، 44 او 45 مخ ؛ النزاع والتخاصم بين بنى اميه و بنى هاشم، 31 مخ.

۳۸ . شرح نهج البلاغه، 9ټوک ، 53مخ ؛ الاستيعاب فى معرفة الاصحاب، 4ټوک ، 87مخ.

۳۹ . ابن اثير، الاصابه، 8ټوک ، 285مخ ؛ محمد تقى تسترى، قاموس الرجال، 1 ټوک ، 80 مخ ؛ ريشه‌هاى تاريخى و زمينه‌هاى اعتقادى نهضت عاشورا ، مخ 305؛ الغدير، 10ټوک ، 83مخ.

## رڼا او په ابوسفیان او معاویه لعنت

پیغمبر(ص) یوزاې په دې بسنه ونه کړه چې د بني امیه ؤ د حاکمیت او چل ول په هکله خبرداري ورکړي بلکې د معاویه په هکله چې ورو ورو لوییده او په مسلمانانو کښې ننوته، په دې هکله یې هم د عمومي ذهنونو د هدایت لپاره خبرې کړي دي. هغه حضرت(ص) په ځینو ځایونو کښې په ابوسفیان او معاویه دواړو لعنت کړے دے او په ځینې ځایونو کښې یې له هغو دوو یو کس د هغوي لاروپانو سره نامه اخستې ده او مسلمانان یې د هغوي په چلونو کښې له ګیریدو ویرولي دي. په تاریخ کښې لولو: "یوه ورځ پیغمبر(ص) ابوسفیان سره مخامخ شو، په داسې حال کښې چې ابوسفیان په خر سپور و او زامن یې یزید او معاویه هم روسره وو لومړني خر راکاږۀ او دویم هغه شړۀ. پیغمبر(ص) وفرمایل: خدای دې لعنت وکړي په سپور، په راکښونکي او په شړونکي باندې". [۴۰]

د پیغمبر(ص) دا حدیث د خلکو تر مینځ دومره مشهور شو چې ټول له دې خبر وو او که په خبرو کښې به راغے نو چا به ترې انکار نه کاوۀ او د هغې په مصداق کښې به یې هیڅ شک نه کاوۀ؛ لکه څه رنګ چې محمد بن ابوبکر معاویه مخاطب کړے دے او ویلي یې دي: "ته لعنت شوې او د لعنت شوي زوې یې او انشاء الله ډېر زر به خدای تا ته سزا درکړي" [۴۱]

په یو بل ځای کښې معاویه خپلو ځینو ملګرو سره روان و چې پیغمبر(ص) ورباندې لعنت وکړ. په دې کښې یو ځای هغه و چې معاویه عمر و عاص

---

۴۰ . لعن الله القائد و الراکب و السائق«: طبری، تاریخ الامم و الملوك، ټوک 11، مخ 357؛ به نقل از عبدالحسین امینی، الغدیر فی الکتاب و السنة و الادب، ټوک 10، 139 او 142 مخ.

۴۱ . الغدیر، 10ټوک ، 147 - 142 مخ ؛ محمد بن عقیل علوی حضرمی، النصایح الکافیه، ترجمه عزیز الله عطاردی، 26مخ.

سره روان و. د تاریخ دا دوه مرموزې او فریبکارې څېرې، له دې وړاندې چې د مصر او شام حکومت په لاس کښې واخلي، په خپلو کښې ملګري وو او په بیلا بیلو ځایونو کښې یې یو دریځ درلود. په هغه سفر کښې چې عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب پیغمبر(ص) سره په سفر کښې ملګرې و، پیغمبر(ص) وکتل چې دوه کسان په غنا لګیا دي او یو کس بل ته ځوابونه ورکوي... نو هغه حضرت(ص) وفرمایل: وګورئ چې دا څوک دي؟ ویې ویل: معاویه او عمرو عاص دي. پیغمبر(ص) خپل دوه لاسونه اوچت کړل او ویې فرمایل: "اللهم ارکسهما رکسا و دعهما الی النار دعا؛[42] خدایا دا دواړه راوغورځوې او اور ته یې ننباسې".

# تیاره انجام

یو له هغه، زوونکیو خبرو چې پیغمبر(ص) د معاویه په هکله کړې ده او د اهل سنتو په کتابونو کښې راغلې ده هغه د قیامت په ورځ د معاویه په شرک باندې پاڅیدل دي. په یو روایت کښې راغلي دي چې هغه حضرت(ص) په څرګنده وړاندې وینا وکړه ویې فرمایل: "رجل من امتی یحشر علی غیر ملتی. فطلع معاویه".[43]

دا خبره په بیلا بیلو عبارتونو سره راغلې ده، خو په ټول کښې په دې خبره کښې څه شک نه پاتې کیږي چې معاویه د پیغمبر(ص) تر نظر لاندې و او هغه حضرت به ټولنه له دې خبروله چې د هغه د حاکمیت په جال کښې ښکیل نه شي او د وخت تیریدو سره او بیلا بیلو پیښو سره له دې خبرې خلک غافل نه شي.

په نورو روایتونو کښې، د پیغمبر(ص) د مصلح او میړني صحابي، ابوذر

۴۲. هماغه، 14مخ.
۴۳. هماغه؛ تاریخ الامم والملوك، 11ج، 57مخ.

غفاري نقل شوي دي چې رسول اکرم(ص) معاویه د اور له اصحابو ګڼلے دے او د هغه راتلونکے وخت یې ډېر تور تم او لړزوونکے ښودلے دے.[۴۴]

## څرګند حکم

که څه هم تیر شوي نصحیتونه د معاویه د شخصیت په هکله او د هغه د تفکر او حکومت په هکله روښانه کوونکي وو، خو پیغمبر(ص) له دې هم وړاندې تلے دے او په څرګنده یې د معاویه حکومت او سیاسي قدرت په لاس کښې د اخستلو وړاندې وینا کړې ده. هغه حضرت په دې هکله ډېر ټینګتیا سره حکمونه کړي دي چې دا ښیي چې پیغمبر(ص) د اسلامي ټولنې او دین په هکله پریشان و. په تاریخ کښې راغلي دي چې ویې فرمایل: "تاسو چې کله معاویه زما په ممبر وګورئ نو قتل یې کړئ" او په بل روایت کښې راغلي دي: "اذا رایتم معاویه یخطب علی منبری فاقتلوه؛ کله چې معاویهووینئ چې زما په ممبر خطبه ورکوي نو ویې وژنئ". "اذا رایتم معاویه یخطب علی منبر فاضربوا عنقه؛ کله چې معاویه ووینئ چې زما په ممبر خطبه ورکوي نو سر ترې پرې کړئ".

علامه اميني د دې حدیثونو د سند په هکله کښې تحقیق کړے دے او په اخر کښې دې علمي او رجالي نتیجې ته رسیږي چې څه چې روایت شوي دي هغه مستند دي او د سنیانو د لویانو له نظره، د دې د سند راویان رښتوني او ټولو ته قبول دي.[۴۵]

۴۴ . هماغه.

۴۵ . الغدیر، 10ټوک ، 147 - 142 مخ ؛ محمد بن عقیل علوی حضرمی، النصایح الکافیه، د عزیز الله عطاردی ترجمه، 26 مخ.

## نورې بیلګې

د پیغمبر(ص) وصیتونه او نصیحتونه د معاویه او د بني امیه په هکله یوازې همدا نه دي چې کوم بیان شول بلکه هغه حضرت په بیلا بیلو وختونو کښې معاویه یاد کړے دے او د هغه قدرت ته د رسیدو او خطرناکو نیتونو په هکله یې مسلمانان خبر کړي دي.

د هغه حضرت ځینې بیانونه د معاویه او عمرو عاص یا نورو منحرفو کسانو د یوځای کیدو په هکله دي چې فرمایي: "اذا رایتم معاویة و عمرو بن العاص مجتمعین ففرقوا بینهما فانهما لن یجتمعا علی خیر".[۴۲] په یو بل ځای کښې، د هغو دواړو اختلاف اچول بد یاد شوي دي او مسلمانانو ته حکم شوے دے چې کله معاویه او د هغه همفکر ملګري د مسلمانانو په خلاف څه چل جوړ کړي او وحدت خرابول غواړي نو هغه په تورې سره ووهئ.

## امام علی(ع) او د معاویه پیژندګلو

که څه هم معاویه بن ابي سفیان د خپل وخت د برحق او واجب الاطاعت خلیفه، لکه امیر المؤمنین علي علیه السلام، په مقابله کښې پاڅون، له سیاسي نظره د هغه د غندلو لپاره بس دے او هغه ورسره تر باغي او فتنه کوونکے حده ټیټوي چې اسلام یې د وژلو اجازه ورکوي، خو له دې ټولو خبرو سره بیا هم د حضرت علی(ع) هڅې او کوششونه په دې ختم نه شول. هغوي د معاویه تیر شخصیت، خطرې او د هغه راتلونکي نقشې د مسلمانانو لپاره بیان کړې او له دې مخې یې د مسلمانانو ټولنه او تاریخ له ټولو تحریفاتو سره له خپلې خوا خبر کړه.[۴۷]

۴۲ . الغدیر، 10ټوک، 148مخ او 2ټوک، 127 مخ.

۴۷ . ر.ک: نهج‌البلاغه، له سقیفې وروسته د امام علی علیه السلام ابوسفیان ته ځواب، معاویه ته د امام علی لیکونه...؛ محمد بن عقیل علوی حضرمی، النصایح الکافیه،

هغه حضرت په خپلو خبرو کښې، په بیله توګه په هغه لیکونو کښې چې خلافت ته له رسیدو وروسته یې تر بیلا بیلو عنوانونو لاندې لیکلي دي په بیلا بیلو بهانو سره د معاویه شخصیت د ټولنې او تاریخ لپاره روښانه کړے دے. هغه حضرت په یو ځای کښې د معاویه دا رنګ پیژندګلو کوي: "أتانی کتابک کتاب امر لیس له بصر یعدیه و لا قائد یرشده دعاه الهوی فاجا به و قاده الضلاه فاتّبعه". او په ادامه کښې یې د معاویه اسلام او د پیغمبر(ص) کورنۍ سره دښمنۍ ته اشاره کړې ده او فرمايي: "قسم مې په خپل ځان که ته داسې وکړې شې چې زما د اسلامي شرافت او زما د پیغمبر سره د خپلولۍ او په قریشو کښې زما د مقام انکار وکړې نو له دې به هم دریغ نه کړې".

امام په لیکونو کښې او په نورو ځایونو کښې، معاویه اهل ضلالت، لعین بن لعین، اولیای شیطان، اهل الغی و الظلال، د هوا او هوس منونکے، پردې او د اهل قران او د هغې د حکم دښمن او داسې نور.... ښیي چې دا ډېرې زده کړې ورځ دي. دا خبرې مونږ ته دا ښیي چې امام علی(ع) یوازې په دې خبرې نه و خپه چې خلافت یې واخیست او جنګ صفین یې جوړ کړ؛ که څه هم دا پیښه د اسلام په تاریخ کښې د معاویه له لویو جنایتونو وه، په بیله توګه د داسې خلیفه په وړاندې چې هغه دومره عادل وي لکه علی. هغه حضرت دا کارونه د معاویه د کفر او جاهلي فکر یوه برخه ګڼله چې دې کفر او جاهلیت همدارنګ ادامه لرله او د مسلمانانو د غفلت او جهل له سببه نزدې وه چې په مسلمانانو کښې ډېرې قربانۍ وشي او بیلا بیل انحرافونه او اختلافونه په کښې رامینځ ته

---

ترجمه د عزیز الله عطارودی، 56 و 57 و 99 مخه وروسته؛ الغدیر، 10 ټوک، د معاویه بحث.

کړي.[۴۸]

## معاویه د امام حسن(ع) له نظره

که څه هم د هغه سیاسي او ټولنیزو حالاتو، چې امام حسن ورسره د پلار له شهادته وروسته مخامخ شو او اسلامي خلافت یې په لاس کښې واخست، هغه یې دې ته مجبور کړ چې معاویه سره صلحه وکړي او سیاسي قدرت هغه ته ورکړي، خو هغه حضرت همدارنګ معاویه د شام د حکومت لپاره وړ نه ګاڼه له همدې سببه د صلحې په لیک کښې یې هم د هغه قدرت او حاکمیت "خلافت او امامت" نه دے ګڼلے.

تاریخي سندونه دا ښیي چې هغه حضرت په ځلونو معاویه او د هغه تور کارونه او کورنۍ خلکو ته وښوده چې حاضر نسل په دې هکله غفلت ونه کړي او راتلونکے نسل دهوکه نه شي. هغه به کله معاویه او ځان د دین او نسب له مخې مقایسه کاوۀ او کله به یې د هغه د صلحې مخالف، د عمرو ابن الحمق وژل، د زیاد بن ابیه ځان سره ورورول او دین او اهلبیتو سره د هغه مخالفت، خلکو ته ښودۀ په دې مخې به یې ملامته کاوۀ او خلک به یې خبرول.[۴۹]

## معاویه او د سفیاني لارې ادامه

معاویه بن ابوسفیان، د یزید پلار له هغه کسانو و چې د مکې په فتحې

۴۸ . د زیاتې خبرتیا لپاره دې وکتلې شي: نهج البلاغه د لیکونو برخه او شرح نهج البلاغه ابن ابی الحدید، 1ټوک، 252 مخ او 3 ټوک، 302 او 411مخ او 4ټوک، 57 _50، 51 مخ؛ الغدیر، 10ټوک، 153 - 148 مخ.

۴۹ . ابن قتیبه الدینوري، الامامة و السیاسة، 1ټوک، 131 او 138 مخ؛ شرح نهج البلاغه، 4ټوک، 6مخ.

کښې چې کله یې له اسلامه ماتې وخوړه او مجبور شو نو اسلام یې قبول کړ. هغه نه په مهاجرینو کښې د ے نه په انصارو کښې او له طلقاو (ازاد کړې شوې غلامانو) او مؤلفة القلوب ګڼل کیږي. معاویه چې کله د خپل ورور یزید بن ابوسفیان په ځای د شام والي شو، نو وخت خلیفه عمر بن خطاب ورباندې نیوکه وکړه. د بیت المال په خرچ کښې د هغه زیاتې او د حکومت په دربار کښې ډېرې لویې له اصرافه ډکې خرچې، دا هغه کارونه نه وو چې اسلام سره سمون ولري.[٥٠]
معاویه ورو ورو د شام حکومت چې باید د پیغمبر(ص) په لاره روان وي، په بادشاهۍ بدل کړ او تر دې حده راورسید چې اول یې په شام کښې خپل لومړنۍ د امویانو حکومت جوړ کړ او بیا یې په ټولې اسلامي ځمکې کښې خپور کړ.[٥١] معاویه په دې لړ کښې لاندیني کارونه وکړ:
الف) هغه د امام علی(ع) په مقابله کښې پاڅون وکړ په داسې حال کښې چې امام علي د مسلمانانو مشروع خلیفه و او د پیغمبر(ص) وصیت سره سم د هغه ځای ناستې و خلکو هم په اخر کښې هغه خلیفه ټاکلې و او ورسره یې بیعت کړے و. نو معاویه راپاڅي او له هغه سره جنګ کوي په داسې حال کښې چې معاویه د خلافت وړتیا نه لري او له بیان شویو شرطونو په کښې یو شرط هم نه و موجود.
ب) هغه د حسن بن علی(ع) په خلاف پاڅون وکړ چې د پیغمبر(ص) د نص مطابق چې اهل سنت یې هم مني په خلفای راشدینو کښې و او د اهل سنتو له نظره د هغه وفات سره د خلفای راشدینو دوره سر ته رسي. نو هغه سره یې جنګ وکړ او اخر دا چې په زور او چل ول او مکر سره یې ترې

٥٠ . احمد بن محمد بن عبد ربه الاندلسی، العقد الفرید، 1ټوک ، 28مخ.
٥١ . عبدالرحمان السیوطی، تاریخ الخلفاء، تعلیق محمد ریاض آنجلسی، 1 ج ، 199مخ.

حکومت غصب کړ.[52]

ج) خپل نیت ته د رسیدو لپاره د حسن بن علي(ع) شهیدول، یعنې د یزید ولي عهد کول او د خلافت موروثي کول او د صلحې ترخپو لاندې کول یوه بله لویه ګناه وه چې معاویه وکړه.

د حجر بن عدي او د هغه د یارانو شهیدول چې هغه یو ډېر زاهد کس او له لویو اصحابو و، دا د معاویه یوه بله لویه ګناه وه چې اهل سنت یې هم غندي او څه دفاع یې نه شي کولې.

هـ) د یزید لپاره بیعت اخستل چې یو ډېر خطرناک کار و چې خلافت یې په ملوکیت کښې او وراثت کښې بدل کړ چې دې خبرې سره د هغه په دین باندې عقیده د سوال لاندې راځي.

دا ټول کارونه د دې سبب شو چې د اهل سنتو لویو عالمانو په هغه باندې لعنت وویل ځکه چې په دې ګناهونو کښې هره یوه ګناه د دې لپاره بس ده چې په قیامت کښې ورسره هغه مجرم شي او له مشهور اهل سنته عالمه، حسن بصري (21-110) نقل شوي دي چې:

معاویه داسې ګناهونه وکړل چې که د ځمکې په مخ بل چا په هغو کښې یوه ګناه هم کړې وې نو د هغه د تل عذاب لپاره کافي وه؛ حکومت یې بې د مسلمانانو له مشورې په لاس کښې واخست، زیاد بن ابیه یې د پیغمبر(ص) د وینا په خلاف ابوسفیان سره ملحق کړ، حجر بن عدي او د هغه یاران یې ووژل او اخر دا چې د یزید په شان کس یې د مسلمانانو خلیفه کړ.[53]

د اهل سنتو یو بل پوهان همدارنګ خبرې د سیرت له لویو عالمانو نقلوي چې یو پکښې محمد بن جریز طبري دے چې په کښې د معاویه دا کارونه

---

[52] . عبد الرحمان السیوطی، تاریخ الخلفاء، 1ټوک ، 199 مخ.

[53] . سبط بن جوزی، تذکرة الخواص، د محمد صادق بحرالعلوم سریزه، 286 مخ.

له بيلا بيلو اړخونو غندي.[۵۴]
و، لکه څه رنګ چې به راشي، د معاويه د اسلام مخالفو کارونو يو کار دا و چې د هغه په حکم به د هغه او د هغه د کورنۍ په ګټه او د علي او د هغه د اولاد په ضرر کښې حديثونه جوړېدل او په هغه حضرت به يې لعنت کاوۀ او همدارنګ نور هغه کارونه چې د پيغمبر(ص) د کورنۍ او اسلام په ضرر يې کړي دي.
يزيد د يو داسې سړي له نسله و او د هغه د تربيت لاندې لوی شو. له بلې خوا د يزيد ملګري چې په ماشومتوب او ځوانۍ کښې يې ورسره وخت تير کړے دے هغه ډېر د بني کلب له قبيلې او عيسايان و او له بلې خوا د هغه په ځوانۍ او ولي عهدۍ کښې د هغه مشاوران د مروان بن حکم، مغيره بن شعبه، زياد بن ابيه او د هغه زوې ابن زياد غوندې کسان و چې د هغه د شخصيت ورسره پيژندې کيږي.

## د يزيد د ځوانۍ دوران

ومو ويل د يو کس کورنۍ، د هغه مور پلار، تربيت کوونکي، ملګري او د هستوګنې ځای، د هغه په تربيت او اخلاق او کړچار کښې لوی رول لري او په حقيقت کښې وراثتي عوامل، د وخت حالات دوستان او اشنايان د سړي شخصيت جوړوي. که څه هم داسې کسان شته چې کله ځوانۍ ته ورسي نو د وړوکوالي عادتونه ورو ورو پرېږدي او خپله لاره بدله کړي او شخصيت يې يا منفي يا مثبت اړخ ته لاړ شي.
د يزيد بن معاويه په هکله هم داسې کيدې شي چې ځوانۍ ته له ننوتلو وروسته له غفلته وتلې وي او له غير اسلامي او منحرفې لارې اصل

---

۵۴ . ډاکټر طه حسين، علي و فرزندانش، ترجمه محمدعلي شيرازی، 243 مخ.

اسلام او ديني کلتور ته راوړېدلے وي.
نور راځئ چې تاريخ ته وګورو. هغه په ځوانۍ کښې نه يوازې دا چې له خپل بدفکرۍ، واوړي بلکې د اسلام په مخالفه لاره کښې نور هم وړاندې لاړ او نور هم زيات ګستاخ او سپک ځُلې شوے و. په هيڅ يو اسلامي کتاب کښې داسې نقل نه دي شوي چې په يزيد کښې فکري بدلي راغلې وي او توبه يې کړے وي بلکې د دې په مقابله کښې د يزيد د خلافت په وخت کښې د هغه داسې عملونه ترسره شوي دي چې د جاهليت کلتور او اسلام سره وراثتي دښمني ترې ځرګنده ده چې په خپل ټول وجود او خپلې ارادې سره يې د اسلام د ختمولو کوشش کاوۀ.

## د بني کلب يوې جينۍ سره د يزيد واده

يزيد چې کله بالغ شو. د وړوکوالي او ځوانۍ يو عادت يې هم پرې نه ښود. هغه اوس هم ځناورو سره په لوبو بوخت و. د هغه د ماشومتوب ملګرو هغه سره خپلې اړيکې ختمې نه کړې بلکه اوس هم هغوي سره همغږې و.
يو له هغه نکتو چې د يزيد، د مور عيسايي کورنۍ سره د هغه مينه ځرګندوي، دا ده چې هغه د همدې کورنۍ يوې جينۍ سره واده وکړ. لکه څه رنګ چې يزيد بني کلب سره مينه لرله او عيسايي کلتور او ادابو سره يې تړون درلود، د دې اثر وروسته د هغه د ښځې او خپلوانو په وسيله د هغه په فکري او عملي بې لاريو کښې اثبات ته رسي.
دغه عوامل سره يو شو او له يزيد بن معاويه يې داسې کس جوړ کړ چې خپل فسق او فجور او ظلمونه يې پټ نه کړې شو بلکې دې ته مجبور شو چې په ځرګنده فسق و فجور وکړي او له ټولو اخلاقي او ديني او انساني

حدونه وځي او د هغه د حاکمیت په برخې کښې به په هغو کښې ځینو ته اشاره وکړو.

## د یزید ښرګند فسق او فساد

د تاریخ څیړلو سره دا څرګندیږي چې د یزید فسق او اخلاقي فساد، د هغه وخت د خلکو لپاره څرګند و او هغه خبرونه چې له شامه رسیدلي دي په هغې کښې د یزید په بې عدالتۍ او د خلافت د مقام د وړتیا نه لرلو کښې څه شک نه پاتې کوي. که څه هم دا خبره ټولو په جدیت سره وا نه خسته او په بیلا بیلو دلیلونو سره یې د یزید خلافت ته سپک ونه ویلې شو. سیوطي په دې هکله په څرګنده وایي: "معاویه یزید ولي عهد کړ او خلک له دې کاره ناراضي و"[55] ابن خلدون هم تر دې حده د یزید فسق څرګند ګڼي او څه شک په کښې نه پریږدي چې نه یوازې امام حسین(ع) او شیعه بلکې ټول خلک له دې خبرې خبر وو. محمد بن جریر طبري د معاویه په دې کار چې یزید یې ولي عهد کړ، له بیلا بیلو اړخونو اعتراض کړے دے او له بیلا بیلو اړخو یې وربانديې نیوکې کړې دي او د معاویه دا ګناه یې یو داسې بدعت ګڼلے چې له دې وړاندې چا نه دے کړے:

معاویه څلور کارونه وکړل چې په هغو کښې هر یو په یوازې د هغه د ګناهګاریدو لپاره کافي دے: 1) د خلکو د چارو په خپل لاس کښې اخستل بې د هغوي له مشورته او رضایته که څه هم داسې اصحاب موجود وو چې له هغه ښه او غوره وو، 2) د خپل زوي یزید ولي کول چې په څرګنده یې شراب څښل او له هیڅ حرام کاره یې ځان نه ساتهٔ؛ 3) د زیاد بن ابیه د وروری دعوا کول؛ 4) د حجر او د هغه د یارانو وژل چې د قیامت

---

55. تاریخ الخلفاء 1ټوک 205 مخ.

په ورځ به د حجر او د هغه د بې ګناه یارانو د وژلو په سبب د معاویه په حال وای وي![56]
یعقوبي هم په دې هکله نقل کړي دي چې یزید د معاویه له خوا په داسې وخت کښې د ولي عهد په توګه وټاکل شو چې "شادوګانو او سپو سره یې لوبې کولې او شراب به څښل او منکرات او فسق و فجور او ګناهونه به یې کول"[57]
ومو ویل چې حسن بصري، د اهل سنتو لوی عالم، د معاویه په هکله ویلي دي معاویه داسې کارونه او ګناهونه وکړل چې د ځمکې په مخ بل چا په هغو کښې یو کار هم کړے و نو د هغه د ګناهګارۍ او دوزخي شونې لپاره کافي و. او په ادامې کښې د طبري بیان شوي مطلبونه بیانوي او د یزید غوندې د یو بد عملې کس وعهدول یو له هغه ګناهونو ګڼي.[58]
عزالدین ابن اثیر هم په خپل مشهور تاریخ کښې داسې راوړي دي:
معاویه د خپل زوي یزید لپاره د بیعت اخستلو کلکه اراده وکړه او یو کس یې زیاد بن ابیه ته ولیږلو چې هغه سره په دې هکله مشوره وکړي.
زیاد، عبید بن کعب نمیري راوغوښت او ویې ویل: امیرالمومنین ماته لیک رالیږلے دے د یزید د بیعت په هکله ... هغه په حقیقت کښې د خلکو تر مینځ د یزید له نفرته خبر دے او له خلکو ویریږي... یزید په خپله په دې پوهیږي چې سپک کس دے او ښکار او منکراتو سره عادت شوے دے.[59]
ابن خلدون د امام حسین(ع) د قیام او د هغه د سبب په هکله لیکي:

---

۵۶ . تاریخ الامم والملوک، 3ټوک، 35مخ.
۵۷ . تاریخ یعقوبی، 2ټوک ، 241 مخ
۵۸ . تذکرة الخواص 287 - 286 مخ ؛ الکامل فی التاریخ، 3ټوک ، 337مخ.
۵۹ . الکامل فی التاریخ، 3ټوک ، 351 - 350 مخ.

د امام حسین(ع) او د هغه اختلافاتو په هکله چې وشو باید ووایو چې له دی سببه چې د یزید فسق او غلط کارونه د هغه وخت ټولو خلکو ته ثرګند و، د امام حسین لارویانو شیعو او د پیغمبر(ص) کورنۍ په کوفې کښې امام حسین(ع) ته یو ټولې ورولیږۀ چې هغه ته ورشي او د هغه په حکم پاڅون وکړي.[۲۰]
ذهبي د یزید په هکله د هغه له خلافته وړاندې داسې وایي: "یزید ناصبي، سخت زړې او بې رحمه و. هغه به تل شراب څښل او محرمات او منکرات به یې ترسره کول". او همدا اعترافات د شذرات الذهب لیکوال نقل کړي او تایید کړي دي.[۲۱]

## د مدینې د استازو ګواهي

د یزید بن معاویه د ټولو اخلاقي مفاسدو او فسقونو سره چې ټولو ته ثرګند و یوازې ګته په شمار کسان د معاویه په چلونو کښې رانه غلل او په ثرګنده یې د یزید د ولي عهدۍ مخالفت وکړ هغوي هیڅکله یزید د اسلامي خلافت وړ نه ګاڼه. دا کسانو هم د سیاستونو او رعبونو ښکار شو او ځینې رشوت او تمې ته او ځینې خپلې کم عقل تیا ته تسلیم شو او څه وخت پس یې له مخالفته لاس واخست او یوازې امام حسین(ع) خپل خدایي نیت سره ټینګ ولاړ و.
د مدینې خلک چې د امام حسین(ع) په وخت کښې یې د یزید ځای ناستي ته او اخلاقي مفسدو ته دومره خیال نه و کړے، لږ څه وخت پس یې یوه ډله شام ته ولیږله چې له نزدې یزید وګوري. دا ډله د عبدالله بن حنظله،

---

۲۰ . عبدالرحمان بن خلدون، مقدمه، ترجمه د محمد پروین ګنابادی، 1ټوک ، 415مخ.
۲۱ . شذرات الذهب فی اخبار من ذهب، 1ټوک ، 69مخ.

غسیل الملائکه په مشرۍ کښې په شام کښې له لږ ساعت هساریدو مدینه ته راستنه شوه او خپل لیدل شوي حالات یې نقل کړل. په تاریخ کښې راغلي دي: هغوي یزید په داسې حال کښې ولید چې شراب ښښې او شادوګانو او سپو سره لوبې کوي. کله چې مدینې ته ستانه شو نو خپل لیدلې حال یې خلکو ته بیان کړ. او په یزید باندې یې لعنت شورو کړ. بیا یې هغه له خلافته لرې کړ او په مدینه کښې یې د یزید حاکم، عثمان بن محمد بن اباسفیان یې له مدینې وباسه او ویې ویل: مونږ د داسې کس له خوا راغلو چې هیڅ دین نه لري، شراب ښښي او تل مست یې او لمونځ نه کوي. (د مدینې خلکو چې کله دا خبرې واوریدې) نو عبدالله بن حنظله سره یې بیعت وکړ او هغه د مدینې خلکو ته مخامخ شو او ویې ویل: "اے خلکو! قسم په خدای! د یزید بن معاویه په خلاف مو پاڅون نه کاوۀ تر دې چې وویریدو چې (د هغه د مشرۍ په دوام سره) له اسمانه کاڼې راوریږي. هغه یو داسې کس دے چې خپلو محرمو ته هم تیرې کوي او د معاویه ښځې، لوڼې او خویندې له هغه په امان کښې نه دي. هغه تل شراب ښښي او تارک الصلاة دے که مونږ د هغه په خلاف پاڅون ونه کړو، نو قسم په خدای چې په لویه بلا به اخته شو".[۲۲]

## د عاشورا د پاڅون د مخالفانو له خوا د یزید د فسق یقین

د اهل سنتو ډېر کم لویان د امام حسین(ع) پاڅون سره مخالف وو چې په هغو کښې بن عباس، ابن عمر او نورو ته اشاره کولې شو. دې کسانو چې دا هڅه کوله چې امام حسین(ع) له پاڅونه منعې کړي نو په خپلو خبرو او نصیحتونو کښې یې د پاڅون وخت مناسب نه ګڼل بیان کړي دي او

۲۲ . شمس الدین ابومظفر سبط ابن الجوزی، تذکرة الخواص، 288 مخ.

هیڅکله یې دا نه دي ویلي چې یزید عادل دے او د هغه خلافت شرعیت لري. هغوي د امام حسین(ع) پاڅون له شرعي نظره منعې نه دے کړے او دا خبره په خپله د دې دلیل ده چې یزید یو فاسق او عدل نه لرونکي کس او د خلافت وړتیا یې نه درلوده.

مشهور تاریخ لیکوال ابن عساکر چې د امام حسین(ع) بیلا بیل فضیلتونه یې د پیغمبر(ص) له مبارکې خُلې نقل کړي دي او د هغه له نقلونو مشهورو اهل سنتو تاریخ لیکوالانو، لکه سبط بن جوزي په تذکرة الخواص، عسقلاني په لسان المیزان، ذهبي په تهذیب الکمال او مزي په سیر اعلام النبلاء کښې ګټه اخستې ده، د یزید د لاندیني شعرونو له نقلولو وروسته د هغه د کفر حکم کوي او دا شعرونه د شعر په ویونکي په کفر باندې څرګند او مزبوت دلیل ګڼي[۲۳]. شعرونه دا دي:

| | |
|---|---|
| لیت اشیاخی ببدر شهدو | جزع الخروج من وقع الأسل |
| لعبت هاشم بالـملک فـلا | ملک جـاء و لا وحـــی نـــزل |

عسقلاني د هغه کسانو په رد چې یزید بن معاویه له اصحابو ګڼي د ابن عساکر دې لیکلو ته اشاره کوي او دا لیکنې قبلوي او په څرګنده وایي: "یزید بن معاویه، هیڅکله عدالت نه لري. له همدې سببه هغه د روایتونو د نقل لپاره وړتیا نه لري". هغه په ادامې کښې د پیغمبر(ص) له خُلې یو حدیث نقلوي چې د دې څرګندونه کوي چې یزید د خلافت وړتیا نه لري او له اسلامه منحرف کس دے.[۲۴]

ځیني تاریخ لیکوالانو د یزید بې عدالتي او فسق دومره یقیني او بې شکه ګڼلې دے چې د هغې په هکله یې خبره هم نه ده کړے. دې ډلې خلافت هیڅکله د بني امیه و لپاره جایز نه دے ګڼلي او هغوي یې غیر مسلمانان

---

۲۳ . شذرات الذهب، 1ټوک ، 69 مخ.

۲۴ . ابن حجر عسقلانی، لسان المیزان، 6ټوک ، 293 - 4 مخ.

ګڼلي دي او له هغه لومړي وختونو يې د ابوسفيان او د هغه د يارانو اسلام قبلول د هغوي يو چل ګڼلے دے او زياته کړې يې ده: هغه له اسلام قبلولو وروسته هم له بت پالنې لاس وانه خست او په غزوه حنين کښې يې هم "ازلام" (بتان) ځان سره پټ وړي وو. ابو سفيان په يرملوک جنګ کښې داسې شعرونه ولوستل چې د هغه په خپل جاهليت باندې د پاتې کيدو ثرګندونه کوي.

ابن منظور چې د اتمې پيړۍ له عالمانو دے په مختصر تاريخ دمشق کښې او ابن عساکر د يزيد د عدالت په رد کښې وايي: "هغه د روايت نقلولو وړتيا نه لري"[٢٥] ذهبي د يزيد فسق او فساد دومره ثرګند ګڼي چې د هغه د کفر بيانولو لپاره د هغه په شعرونو بسنه کوي او وايي: جويره اى (يوې کنيزې) چې له بني اميه وه د يزيد په وړاندې هغه يې مخاطب کړے دے او دا شعرونه يې ويلي دي:

لستَ منا و ليس خالک منّا يا مضيع الصلاة للشهوات

اے يزيده! ته له مو نه يې او مور دې مسلمانه نه ده. اے هغه کسه چې مونځ دې د شهوتونو او ګناهونو لپاره پريښے دے.[٢٦]

په العقد الفريد کښې د مسور بن مخرمه کيسه، چې يو درون او شريف کس و نقل کړې ده چې د يزيد په هکله يې وويل: "هغه شراب ثښي" دا خبره يزيد ته ورسيده او د هغه د مدينې حاکم ته وليکل چې په مسور حد جاري کړه او تازيانې (کوړې) ورته ولګوه. د يزيد حاکم هغه کار وکړ او مسور د حد له جاري کيدو وروسته ويل: "شراب يزيد ثښي خو سزا يې مسور زغمي".

په همدې کتاب کښې بيا احنف بن قيس هم راغلے دے چې د معاويه په

---

٢٥ . محمد بن مکرم ابن منظور، مختصر تاريخ دمشق، 28ټوک ، 19 - 18 مخ.

٢٦ . ذهبي تاريخ الاسلام، 5ټوک ، 273مخ.

وړاندې په يوې ناستې کښې ناست و چې ځينې کسانو د يزيد په هکله خبرې وکړې. معاويه احنف ته مخ کړ او ويې ويل: اے ابا بحره! ولې چپ يې او څه دې ونه ويل؟ احنف ورته په ځواب کښې وويل: که رښتيا وايم نو له تا ويريږم او دروغ ووايم نو له خدايا ويريږم.[٢٧] دا تاريخي روايت د اهل سنتو په اصلي سرچينو کښې راغلے دے، د يزيد فسق او د اسلامي خلافت لپاره د هغه وړتيا نه لرل ثابتيږي او په دې هکله څه شک نه پاتې کيږي.[٢٨]

## د يزيد کفر

د اهل سنتو زيات عالمان، يو قدم وړاندې شوي دي او د يزيد په کفر يې حکم کړے دے او دا خبره يې په بيلا بيلو دليلونو سره ثابته کړې ده. د دې ډلې پوهانو په نظر کښې په هغه باندې لعنت کول جايز دي او په يزيد باندې د لعنت منعې کوونکي فاسقان ګڼل کيږي.

ابو مظفر شمس الدين سبط ابن جوزي چې د شپږمې پيړۍ له مشهورو پوهانو دے روايتوي چې زما نيکه ابوالفرج په يزيد باندې د لعنت کولو مخالفانو په رد کښې يو کتاب وليکه چې نامه يې: الرد على المتعصب العنيد المانع من ذم يزيد، ده. هغه په دې کتاب کښې د يزد د کفر په باره کښې او په هغه باندې د لعنت په هکله راوړي دي:

"د يزيد بن معاويه بد ويل او په هغه باندې د لعنت کولو اجازه نه يوازې زۀ، بلکې داهل سنتو متقيان عالمان چې له هغو ځينې احمد بن حنبل دے، هم دا اجازه ورکوي. او هغه په حقيقت کښې د يزيد په هکله داسې

---

٢٧ . احمد بن محمد بن عبد ربه الاندلسی، العقد الفريد ، 4ټوک ، 28 او 32 او 150 مخ.

٢٨ . احمد المقريزی، التزاع و التخاصم فيما بين بنی اميه و بنی هاشم، 29مخ.

څه ویلي دي چې له لعنت هم زیات دي. زما نیکه زیاتوي... له احمد بن حنبله مې د یزید بن معاویه په هکله پوښتنه وکړه، ویې ویل: یزید هغه کس دے چې مدینه یې خرابه کړه. بیا یې د دا رنګ ګناهګارو په هکله د پیغمبر(ص) حدیث نقل کړ". ۶۹
هغه په ادامې کښې له احمد بن حنبله نقلوي چې هغه د ټولو احتیاطونو او ځان ساتلو چې په خلکو له لعنته ځان ساتي بیا هم په یزید بن معاویه لعنت کوي او د هغه د روایت نقلولو ور نه ګڼي. همدارنګ د اهل سنتو ډېر عالمان چې له بیلا بیلو مذهبونو دي او په اسلامي نړۍ کښې په بیلا بیلو ځایونو کښې اوسیږي او په بیلا بیلو دورونو او تاریخونو کښې وو په یزید لعنت کوي او دا کار له اسلامي ذمه وارو یوه ذمه ګڼي چې په راتلونکي بحثونو کښې به راشي. ۷۰

## یزید او د خلافت نورې بیلګې

کله چې د مسلمانانو په اتفاق سره د یزید بن معاویه فسق روښانه شو او د ډېرو اهل سنتو پوهانو او فقیهانو له نظره د هغه کفر څرګند شو نو دا نتیجه په لاس راځي چې د یزید حکومت له اوله غیر شرعي او غصبي و نو دې ته په پام د هغه په وړاندې هر ډول پاڅون نه یوازې دا چې شرعي و بلکې د شرعې او عقل له نظره یې څه منعې نه لرله، بلکې لکه څه رنګ چې امام حسین(ع) په خپله یوه خطبه کښې ویلي دي، د هر مؤمن ذمه واري دا وه (نه یوازې د امام حسین یا بل امام) چې خلافت خپل ځینښتن

۶۹ . هماغه، مخ 287؛ الکامل فی التاریخ، 3ټوک ، 337مخ ؛ ابن حجر عسقلانی، لسان المیزان، 6ټوک ، 294 - 293 مخ.
۷۰ . په یزید باندې د لعنت په هکله د اهل سنتو عالمانو نظر به په یو ځانته څپرکي کښې راشي.

ته ورکړي، عدالت قایم کړي او هغه ظالم باچا په خپل ځای کښینوي.

## ضروري فقاهت

لکه څه رنګ چې اشاره وشوه، په دې باندې ټول یوه خُله دي چې د خلیفه لپاره اسلامي زده کړه ضروري ده. د اهل سنتو ټولو پوهانو د خلیفه لپاره اسلامي پوهه ضروري ګڼلې ده او بې له پوهې یې خلافت د مقام په لاس کښې اخستل غیر شرعي او نامشروع ګڼلي دي. په ځینې کتابونو کښې دې بیلګې ته د "اجتهاد" نامه ورکړې شوې ده په ځینو کښې ورته "علم" او په ځینو نورو کښې ورته فقاهت ویلي شوي دي.[71] له همدې سببه هغوي باوري دي خلفای راشدین بې له استثناء د خپل وخت له فقیهانو وو او په یوه ویش کښې – لکه چې اشاره وشوه – ځینې په لومړۍ درجه کښې او ځینې په دویمې درجې کښې عالمان او مجتهدان وو. په دې لړ کښې یو کتاب چې د فقیهانو او د اهل سنتو د پوهانو نظرونه یې څېړلي دي، دویم خلیفه او امام علي په لومړۍ درجه کښې فقیهان ګڼلي دي او عثمان او ابوبکر یې په مینځنۍ درجه یا دویمې درجې کښې ښودلي دي. په دې ترتیب سره، په خلیفه کښې د فقاهت شرط د خلافت د مقام لپاره له ضروري شرطونو ګڼل شوے دے.

دې ټولو خبرو ته پام په یو تاریخي، فقهي او حدیثي کتاب کښې هم د یزید بن معاویه په هکله دا نشته چې هغه فقیه و. چې له هغه یو فقهي اصل یا یو روایت پاتې شوي وي. په حقیقت کښې یزید که رښتونې مسلمان وې او په اسلام باقي پاتې وې، نو عدالت یې ترلاسه کولې او له

---

۷۱ . د لازیاتې خبرتیا لپاره رجوع وکړئ: شیخ ابوزهره، الفقه علی المذاهب الاربعه؛ ډاکټر عبدالکریم زیدان، الوجیزه فی اصول الشریعة؛ جعفر سبحانی، پیشوایی از نظر اسلام، 22مخ.

راويانو کيدې شو او په دې طريقې به د پيغمبر(ص) د حديثونو راوي شماريده که څه هم په يوې واسطې وې.
لکه څه رنګ چې تير شو، د اهل سنتو روايتونه او نقلونه د هغه اسلام راوړل ردوي او د اهل سنتو ډير مشران د کربلا له پيښې وړاندې د هغه د مسلمانيدو انکار کوي. د کربلا له پيښې وروسته هم ډېر اهل سنت باوري دي چې که څه هم په ظاهره مسلمان و خو چې دا کار يې وکړ نو دې کار سره هغه کافر او جايز اللعن شو.
په دې اساس، لکه څه رنګ چې اشاره وشوه، د اهل سنتو ځينې رجال پيژندونکي او څيړونکي، له يزيد روايت نقلول جايز نه ګڼي او ويلي يې دي: "مقدوح فی عدالته و لیس باهل ان یروی عنه"[۷۲] د يزيد عادل نه دے او د دې وړتيا نه لري چې ترې روايت نقل شي.
دا خبرې د دې څرګندونه کوي چې د اهل سنتو د يو کس په نظر کښې هم يزيد فقيه نه ګڼل کيږي. له دې نظره هم د هغه د خلافت مقام او د کربلا په پيښه کښې هغه په حق شونه او يو ديني او اسلامي مشر شونه له دې ټولو خبرو د اهل سنتو عالمان او تاريخي سرچينې انکار کوي په راتلونکي څپرکي کښې به په دې هلکه نور مطلبونه هم بيان شي.

## د خلافت د بدليدو طريقه

له دې وړاندې اشاره وشوه چې په اسلام کښې او د خلفای راشيدينو په سيرت کښې، د له يوه خليفه بل ته د خلافت بدليدل په يوې خاص طريقې وو چې د اهل سنتو په نظر کښې يې ديني ارښت او اسلامي اعتبار درلود.
په دې مسلې کښې دوه څيزونه له ټولو زيات اهميت لري:

۷۲. ميزان الاعتدال، ټوک 7، مخ 242؛ لسان الميزان، 6ټوک ، 293مخ.

1. باید تیر شرعي او قانوني خلیفه، بې له دې چې غیر ارزښت لرونکي مسلې په نظر کښې وساتي په دې هکله قدم اوچت کړي. د اهل سنتو په نظر کښې د څلورو خلیفه ګانو له سیرته همدا په لاس راځي چې د زوي او خپل قوم کس د ځای ناستي په توګه ټاکل د شرعې خلاف دي. باید په دې لړ کښې تله تقوا، نیک سیرت، د مدیرت او مشرۍ توان لرل، میړنتیا او له ټولو مهم د هغه کس عدالت او فقاهت د خلافت د مقام تر لاسه کولو لپاره په نظر کښې وساتل شي.
2. له دې وروسته چې خلیفه یو کس د ځای ناستي په توګه وټاکه د مسلمانانو بیعت هم ضروري دے چې دا کار عملي شي او جاري شي. بیعت هم باید داسې وي چې خلک ورباندې راضي وي او په خپل اختیار سره بیعت وکړي نه په زور زیاتي سره، لکه څه رنګ چې ابن خلدون وایي: بیعت د اطاعت او حکم منلو وعده کول دي. بیعت کوونکي به خپل امیر سره دا وعده کوله چې په خپلو او د خلکو په چارو کښې به د هغه حکم ته تسلیم وي... او داسې رسم وځې کله به یې امیر سره بیعت کاوۀ او عهد او وعده به یې کوله، نو خپل لاس به یې د ټینګتیا او بیعت لپاره د امیر په لاس کښې کیښودۀ..."[٧٣]
کله چې بیعت په زور یا فریب او دهوکې یا تمې سره ترسره شي، نو هغه بیعت څه ارزښت نه لري لکه څه رنګ چې ابوحنیفه، عبدالحمید بن جعفر، ابن عجلان او د اهل سنتو نورو مشهورو فقیهانو، که څه هم منصور عباس سره بیعت کړے و خو بیا یې هم د هغه په خلاف بغاوت وکړ او کله چې ورته وویل شول "إنّ فی اعناقنا بیعة للمنصور" یعنې مونږ خو منصور سره بیعت کړے دے!! نو مالک بن انس وویل: "لیس علی مکره

٧٣. مقدمه ابن خلدون، ترجمه د محمد پروین گنابادی، 1ټوک، 400مخ.

یمینُ[۷۴] په زور او مجبورۍ سره خو اصلا بیعت نه کیږي او څه ارزښت نه لري".

## د یزید د ولي عهد شوني څرنګوالي

هغه طریقې ته په پام چې د خلافت د بدلیدو په باره کښې اهل سنتو د خلفای راشدیونو په هکله منلې ده، د اسلامي خلیفه د جوړیدو یو شرط دا دے چې قبولې او شرعي طریقې سره باید خلافت لاس کښې واخستې شي. د یزید په خلیفه کیدو کښې دا څو پوښتنې کیږي چې ځوابونو ته اړمن دي:

1. ایا معاویه بن ابوسفیان، د مسلمانانو شرعي او قانوني خلیفه و چې د هغه خلیفه جوړل شرعي وي او سیرت او سنت وي؟

د اهل سنتو زیات عالمان د خلافت هغه بیلګو ته په پام چې باید خلیفه د رسول الله(ص) په څیر وي، او همدارنګ هغه حدیث ته په پام چې له پیغمبر(ص) نقل شوے دے چې له ما وروسته خلافت به دیرش کاله دوام ولري او بیا به په ملوکیت کښې بدل شي او خپل اسلامي او دیني ارزښت به له لاسه ورکړي، ویلي دي: اول خبره دا ده چې معاویه له هغه دیرشو کالو وروسته په تخت ناست دے او دویمه دا چې په معاویه کښې د تیرو خلیفه ګانو په بیله توګه د خدای د رسول(ص) په شان هغه زهد، علم او جهاد نه و. له دې نظره هغه خلیفه نه و، بلکه سلطان (باچا) او امپراتور و لکه څه رنګ چې له اسلامه وړاندې د روم او فارس پاچاهان وو. لکه څه رنګ چې مو د یزید د کورنۍ په هکله وویل، معاویه نه یوازې دا چې د خلافت وړتیا نه لرله بلکې د پیغمبر(ص) له خوا وراندې لعنت شوې و او خلک یې د هغه له چلونو او قدرت ته رسیدو خبر کړي وو او د هغه کارونو

---

۷۴. جلال الدین السیوطی، تاریخ الخلفا، 261مخ.

(هغه جنګونو چې امام علي سره يې وکړل او نورو کارونو) هم په خپل وخت دا ثابته کړه. له دې سببه د اهل سنتو د دې ډلې په نظر کښې، معاويه دا حق نه درلود چې له ځانه وروسته خليفه وټاکي، ځکه چې په خپله يې خلافت په زور زياتي اخستې و او بدعتونه او فسادونه يې ترسره کړي وو چې وروسته به راشي.

2. ايا د يزيد په خلافت ټاکل اسلامي طريقې سره وشو او ورپسې خلکو بيعت وکړ چې هغه ته خليفه ويل صحيح وي؟

د دې پوښتنې د ځواب لپاره، ښه دا ده چې د تاريخ پاڼې ولټوو، اهل سنتو ته قبولې سرچينې مطالعه کړو. د خوشحالۍ خبره دا ده چې ډېرو کتابونو د يزيد قدرت او خلافت ته رسيدل نقل کړي دي او د په ډېرې ښې طريقې سره يې د هغه حاکميت ته رسيدل بيان کړي دي او اهل سنت عالمان دې ته مجبوروي چې د هغه په هکله خپل دريځ ځرګند کړي.

ابن اثير د 56 کال په پيښو کښې وايي، لکه څرنګ چې مهمو تاريخ لکيوالانو لکه طبري هم راوړي دي، ليکلي: په دې کال خلک د يزيد بن معاويه د ولايت عهدۍ بيعت ته مجبور کړې شو. د کيسې شورو بلکه ټوله کيسه د مغيرة بن شعبه په لاس جوړه شوې وه. کله چې معاويه دا اراده وکړه چې مغيرة د کوفې له واليتوبه عزل کړي او سيعد بن عاص د هغه ځای ناستې کړي، نو دا خبره د مغيرة غوږ ته ورسيده او هغه وويل: زما نظر دا دے چې معاويه ته ورشايم (له دې وړاندې چې ما عزل کړي) استعفا ورکړم چې خلک دا ووايي چې نور د حکومت چلولو شوق نه لرم. هغه معاويه ته ورغله او کله چې شام ته ورسيد، نو معاويه سره له ليدلو وړاندې يې خپلو ملګرو ته وويل: "که نن په دې وخت څه مقام تر لاسه نه کړم نو هيڅکله به ورته ونه رسيږم". دا خبره يې وکړه او يزيد ته ورغے او هغه ته يې وويل: "لوی اصحاب او مشران مړه شوي دي او د قريشو لويان

نه دي پاتي. يوازې د هغوي بچي پاتي دي چې په هغو ټولو کښې ته له ټولو زيات فضيلت لرونکے، هوښيار او په سنت او سياست له ټولو زيات پوه يې. زۀ نه پوهيږم چې معاويه کوم څيز له دې هيسار کړے دے چې ستا لپاره بيعت واخلي. يزيد په ځواب کښې ووېل: ته دا فکر کوې چې د دې کار سريزې تيارې دي او دا کار عملي کيدې شي؟ مغيره ورته په ځواب کښې ووېل: هو، بلکل.

يزيد له دې پيښې وروسته، خپل پلار ته ورغے او د مغيره خبره يې ورته وکړه. معاويه مغيره راوغوښته او د يزيد خبره يې هغه ته وکړه. مغيره ووېل: اے اميرالمؤمنينه: ما په تير وخت کښې، د عثمان له خلافته وروسته چې کله په خلافت کښې اختلاف شو، هغه وينې توييدل ليدلي دي او يزيد هم ستا ځاى ناستے دے نو د هغه لپاره بيعت واخله چې که څه پيښه شي نو هغه به د خلکو مشري کوي او ستاسو ځاى ناستې به وي او په دې طريقه به وينې نه توييږي او فتنې به نه جوړيږي.

معاويه ووېل: په دې کار کښې به څوک ما سره مرسته وکړي؟ مغيره ووېل: د کوفې ذمه زۀ اخلم او زياد بن ابيه به بصره راضي کړي. کله چې دا دواړه ښارونه راضي شول، نو داسې څوک نشته چې له تاسره مخالفت وکړي. معاويه ووېل: نو خپل ځاى ته ستون شه او په چا دې چې باور وي هغه سره دا خبره وکړه. هم ته حالاتو ته ګوره او هم به زۀ. مغيره معاويه سره خداى ملې وکړ او خپلو يارانو ته ستون شو. ويې ويل څه وشو؟ ويې ويل: چپ شئ. معاويه ډېر هوښيار کس دے (په دې وړانديز سره مې) د محمد (ص) په امت کښې داسې فتنه رامينځ ته کړه چې هيڅکله به ختمه

نه شي.[۷۵]

## معاویه او دوه سویز سیاست

د تاریخ په ګواهۍ او د معاویه د خپل تیر سوفیاني تفکر له سببه، هغه تل په دې فکر کښې و، خو د مغیره دې خبرې او د یزید ټینګتیا سره یې دا نقشه عملي کړه. هغه د یزید د ولي کولو او د هغه لپاره د بیعت راخستلو لپاره په یو وخت دوه کارونه وکړل.

**1. د رعب او مړه ولو طریقه؛**

هغه د هغه کسانو په هکله چې د هغوي رضا کول یا تمه ورکول ورته ممکن نه ښکاریدل هغه یې ویشتل او ختمول. د دې کار په وړاندې له ټولو غټ مانع او ستونزه ورته حضرت حسن بن علی علیهما السلام و. هغه چې د خپل پلار له شهادته وروسته په خپله د مسلمانانو خلیفه و، معاویه سره په صلحې کښې یې دا ټینګار کړے و، چې په دې شرط د خلکو حکمراني، نه خلافت، لاس کښې واخلي چې له ځانه وروسته به بل حکمران نه ټاکي او په دې خبرې باندې صلحه شوې وه او دواړو اړخونو دا خبره منلې وه: "و لیس لمعاویة بن ابی سفیان این یعهد الی احد من بعده عهدا بل یکون الامر من بعده شوری بین المسلمین...".[۷۶]

معاویه خپل د نفس غوښتې او ساسي ارمان ته د رسیدو لپاره، د حسن بن علی په خلاف کار شورو کړ او لکه څرنګ چې تاریخ کښې راغلي دي،

---

۷۵. تاریخ طبري، 3ټوک، 247مخ ؛ الکامل فی التاریخ، 3ټوک، 350 - 349 مخ ؛ جلال الدین السیوطی، تاریخ الخلفا، 1ټوک، 205مخ ؛ شمس الدین محمد الذهبی، تاریخ الاسلام، د ډاکټر عمر عبدالسلام تدمیری څیړنه، 5ټوک، 272مخ.

۷۶. ابن الصبّاغ مالکی، الفصول المهمة فی معرفة احوال الائمةعلیهم السلام، 154 او 156مخ ؛ الکامل، 3ټوک، 315مخ.

حسن بن علی علیهما السلام د خپلې ښځې جعدې چې د اشعث بن قیس لور وه، د لاسه په زهرو شهید شو. او سبب یې دا و چې معاویه هغه دې کار ته هڅولې وه او په سل زره درهمه یې راضي کړې وه. له همدې سببه هغه حضرت ناروغ شو او څلویښت ورځې پس شهید شو.[٧٧]
تاریخ لیکوالانو په دې خبره ټینګار کړے دے چې هغه امام ته، په ځلونو د معاویه له خوا زهر ورکړےشوي دي تر دې چې په اخري ځل ورته په زیات مقدار کښې زهر ورکړے شو چې هغه حضرت نور ژوند ونه کړې شو او شهید شو.[٧٨]
د معاویه له خوا زور زیاتې او رعب او وهل ټکول همدارنګ شورو وو. هغه په خپل یو محفل کښې د چې د عراق د استازو په ګډون ترسره شو، په صراحت سره یې خلکو ته وویل چې که د معاویه غوښتې سره مو مخالفت وکړ نو بې له تورې مو بل څه ځواب نشته. معاویه په دې رعب او زور سره خلکو ته څه اختیار پرې نه ښود خو یا د یزید ولایت عهدي منل وو او یا تورې ته تیاریدل وو. ابن اثیر د ولایت عهدۍ لپاره د معاویه هڅې دا رنګ بیانوي:
معاویه د خپلو کسانو غوږ ته د یزید د ولایت عهدۍ خبره واچوله او د هغه ستاینه یې وکړه. او همدارنګ حکم یې وکړه چې د ګیر چاپیر ښارونو او کلو استازي او ډلې دې هغه ته راولیږل شي. په دې ډلو کښې یوه ډله د محمد بن عمرو بن حزم وه چې د مدینې د خلکو له خوا شام ته لاړ او احنف بن قیس د بصرې د خلکو په ډلې کښې و. محمد بن عمرو معاویه ته مخ کړ او ویې ویل: هر یو مشر د خپلو کښرانو په وړاندې ذمه واري لري؛ د حضرت محمد (ص) د امت په هکله فکر وکړه... بیا معاویه (خپل

٧٧ . الفصول المهمه، 154-156مخونه.
٧٨ . هماغه، الکامل، 3ټوک ، 315مخ.

د فوج مشر) ضحاک بن قیس فهري ته مخ کړ او ویې ویل: کله چې ډلې او استازي راتلل شي نو زه بیا خبرې کوم. کله چې زما خبرې ختمې شوې، نو بیا به ته د یزید د بیعت په هکله خبرې وکړې او خلکو ته د بیعت بلنه ورکول ستا کار دے چې هغوي په دې هکله وویروې.
کله چې خلک کښیناستل، معاویه د اسلام د لوړاوي او د خلافت مقام د حرمت په هکله خبرې شورو کړې او په دې خبرې یې ټینګار وکړ چې باید د مشرانو اطاعت وشي او د خلیفه اطاعت واجب دے. بیا یې د یزید ذکر وکړ او په سیاست کښې یې د هغه فضیلت او پوهه وستایله. له هغه وروسته ضحاک خبرې شورو کړې او د خدای له ثنا وروسته یې وویل: اے امیر المؤمنینه! له تا وروسته خلک والي او ځای ناستي ته اړمن دي. بیشکه چې په دې خبرې سره به دوستي او یووالې محفوظ پاتې شي او زمونږ ښه په همدې کښې ده او د ادامې لپاره زیات امنیت او اخرت ښه کیدو لپاره همدا غوره ده او... یزید د امیر المؤمنین زوې دے او لکه څه رنګ چې مونږ ته پته ده په سلامتۍ او ښه هدایت کښې د خپل پلار په شان دے او په علم او زغم او صبر کښې له ټولو ښه او هوښیار دے. نو ولایت عهدي د هغه حق دے. نو هغه له ځانه وروسته نښه او د امن ځای وګرځوه چې د هغه سیوري لاندې وو. له هغه وروسته عمر بن سعید اشدق، همداسې خبرې وکړې او بیا یزید بن مقنع عذري پاځید او ویې ویل: "دا کس امیر المؤمنین دے" او معاویه ته یې اشاره وکړه. "نو که هلاک شو نو دا کس امیر المؤمنین دے" او یزید ته یې اشاره وکړه، "او څوک چې دې خبرې سره مخالفت وکړي، نو ځواب یې دا دے" او خپلې تورې ته یې اشاره وکړه. معاویه ورته وویل: "کښینه د خطیبانو سردار یې"[۷۹]

۷۹. الکامل فی التاریخ، 3ټوک ، 353 - 352 مخ.

په همدې کتاب کښې بيا د نورو ډلو راتګ بيان شوے دے چې ځينو په کښې د معاويه د يزيد د ولي کولو په ځواب کښې په ښکاره ووېل: "که د يزيد د وړتيا په هکله رښتيا ووايو نو له تا وېرېږو او که دروغ ووايو نو له خدايه وېرېږو. نو... ښه دا ده چې ووايو مونږ درته تسليم يو: و انما علينا ان نقول سمعنا و اطعنا..."[٨٠] د معاويه درباريانو د دوي په ځواب کښې ووېل: د مجبورۍ له مخې دې سمعا و طاعة نه وايي؛ ځکه چې بله لار هم شته: "و انما عندنا سمع و طاعة و ضرب و ازدلاف؛ که اطاعت مو ونه کړ، نو لرګي او تورې هم شته، هغه هم خوښولې شئ"!

**2. د تمې او مال ورکولو طريقه؛**

د زور او زياتي طريقې سره سم هغه د تمې او د بيت المال د خرچ کولو او ورکولو طريقه هم خپله کړې وه. او نيغ په نيغه يې د دې نقشې لپاره ډېر مال خاص کړه او د اسلامي نړۍ لويو کورنو، مشرانو او خاصو کسانو ته په بيله توګه عربستان کښې خلکو ته ورکړې او خپل واليان او کارمندان يې هم دې لارې ته وهڅول او ورته يې حکم وکړ. هغه سل زره درهم عبد الله بن عمر ته راولېږل. ابن عمر اول هغه قبول کړل، خو کله چې د يزيد د ولي او هغه سره د بيعت خبره واوريده نو ويې ويل: بايد خپل دين او ايمان د دې بيعت په بدل کښې خرڅ کړم او دا درهم کم دي![٨١]

د معاويه واليان، چې يو په کښې مغيرة ابن شعبه و، کله چې له معاويه ستانه شول او کوفې ته راغلل، نو خپلو ملګرو سره يې مشوره وکړه او لس کسان يې د ديرشو زرو درهمو په مقابله کښې واخستل او يوه ډله يې معاويه ته شام ته ورولېږله چې د يزيد ولايت عهدي تاييد کړي. کله چې دا ډله ورسيده، نو معاويه موسی بن مغيره ته مخ کړ چې دغه وخت د

---

٨٠. هماغه

٨١. تاريخ طبری، 3ټوک، 247مخ؛ الکامل فی التاريخ، 3ټوک، 353 - 352 مخ.

کوفې مشر و او ورته یې وویل: ستا پلار د څومره درهمو په بدل کښې د دې کسانو ایمان اخستېے دے؟ ځواب یې ورکړ: په دیرش زره درهمه. دغه ځای کښې معاویه وویل: په رښتیا چې ارزان یې اخستے دے![82] د نورو کسانو په ملاقاتونو او د بیعت په څرګندونه کښې، چې یو ترې عروه و معاویه همدارنګ کار وکړ: "فقال معاویۀ لعروۀ سراً عنهم بکم اشتری ابوک من هولاء دینهم قال باربعمأۀ دینار، قال لقد وجد دینهم عندهم رخیصاً"[83] لکه څه رنګ چې وړاندې وویل شول، کوم کس چې د دې کار لپاره وګمارلې شو هغه زیاد بن ابیه و. هغه معاویه له دې کاره ویرولې و.[84]

معاویه په 50 هجري کال کښې د حج کولو په بهانې مدینې ته روان شو او له دې وړاندې د دې ښار والي ته سپارښتنه وکړه چې څومره کیدې شي نو خلک تیار کړه. نو کله چې مدینې ته ورننوت نو حکم یې وکړ چې عبدالله بن عباس، عبدالله بن جعفر، عبدالله بن عمر او عبدالله بن زبیر دې هغه ته راوستې شي او څوکیدار ته یې وویل چې تر څو دا کسان له ما سره دي نور څوک دننه پرې نه ږدي.

معاویه د خدای له ثنا او په رسالت باندې له شهادته وروسته وویل: "زۀ د ډېر عمر شوې یم او بوډا او ضعیف شوې یم او خپل مرګ نزدې ګڼم. نو په نظر کښې مې نیولې ده چې له ځانه وروسته یزید خلیفه کړم. تاسو هم د قریشو ښه لوی او پوه کسان یئ. او حسن او حسین مې ځکه نه دي راغوښتي چې هغوي د خپل پلار زامن دي زۀ هغوي ته هم ښه نظر او

---

۸۲. الکامل فی التاریخ، 3ټوک ، 351 - 349 مخ ؛ تاریخ طبری، 3ټوک ، 247مخ.

۸۳. هماغه

۸۴. الامامۀ و السیاسۀ، مخ 60؛ الفتوح، 4ټوک ،له 434مخه وروسته ؛ کشف الغمه، 2ټوک ، 240مخ ؛ همدارنګ ر.ك: فرهنګ جامع سخنان امام حسین‌علیه السلام، ترجمه د علی مؤیدی، 289مخ.

ورسره مینه لرم".
دا سفر د امام حسن مجتبی(ع) په ژوند کښې ترسره شو، په دې کښې ډېر په هوښیارتیا سره چل جوړ شوې و. دا خو روښانه ده چې په دشمنانو باندې د برې لپاره یوه لاره دا ده چې خپل ملګري مزبوت کړے او د دښمنانو ملګرو کښې اختلاف واچوې. معاویه[۸۵] د یزید د حاکمیت لپاره عباس او جفعر بن ابي طالب او د مدینې نور مشران راغوښتي وو او دا یې غوښتل چې هغوې د علي(ع) له اولاده او علویانو جدا کړي د دې لپاره چې ورته پته وه چې دوي سر نه ټیټوي او د دې لپاره هم چې د هغوي تر مینځ جدايي او مخالفت راولي. او له همدې سببه یې هغوي دې ناستې ته ونه بلل.
د معاویه په ځواب کښې عبدالله بن عباس د خدای ثنا وکړه او په پیغمبر(ص) باندې یې درود وویل او په همدې یې بسنه وکړه او د یزید د ولایت عهدۍ مسلې یې داسې وګڼله لکه چې نه یې وي اوریدلې او د دې په ځای یې دا خبرې وکړې چې خدای پیغمبر(ص) په کومې طریقې خوښ کړ. دغه وخت عبدالله بن جعفر خبرې شورو کړې او د پیغمبر(ص) د کورنۍ په نورو باندې د لوړاوي خبرې باندې یې ټینګار وکړ. هغه د امام حسن او د امام حسین په نه راغوښتلو اعتراض وکړ او په معاویه باندې یې سختې نیوکې وکړې، او ویې ویل چې له خدایه وویریږه او اوس چې د خلکو مشري دې په لاس کښې اخستې ده نو د خلکو په فکر کښې شه.
عبدالله په ادامې کښې معاویه ته دا یادونه وکړه: "تا ته خو دا پته ده چې حسن او حسین د علمونو او شرافت خزانې دي"

---

۸۵ . لکه څه رنګ چې لومړې او دویم خلیفه د سقیفه له پیښې وروسته کله چې ورسره بني هاشمو مخالفت وکړ نو د عباس بن عبدالمطلب کور ته ورغلل او هغه یې د بني هاشم مشر وګڼه او ویې غوښتل چې هغه ته تمه ورکړي.

بیا عبدالله بن زبیر هم د حاضرانو دریځ او د امام حسن او امام حسین(ع) د نه راتلو په هکله اعتراض وکړ او له هغه یې وغوښتل چې له خدایه وویریږه او انصاف مه هیروه. هغه په حقیقت کښې دا خبره کوله چې د امام علي(ع) د زامنو حسن او حسین(ع) په شتون کښې د خلافت وار د یزید په شان کس ته نه رسي.[۸۲]

معاویه د حاضرانو د خبرو له ختمیدو وروسته دې نتیجې ته ورسید چې له دې سفر او په دې کښې له شوي کارونو دومره معلومات ترلاسه کړي چې د خلکو خیالات ورته معلوم شي او په راتلونکي وخت کښې د خپلو نقشو عملي کولو لپاره له همدې معلوماتو ګټه واخلي. لکه څه رنګ چې وړاندې اشاره وشوه، هغه له دې سفره وروسته امام حسن(ع) شهید کړ او په دې طریقه له ټولو لوی خنډ او مانع چې په سیاسي توګه د امام او خلافت له ټولو لوی مدعي او جامع شرائط امام و له مخې لرې کړ.

د امام حسن له شهادته وروسته عبدالله بن عباس سره د معاویه خبرې په دې باندې ټینګار کوي چې هغه د هغه حضرت له لوړ مقام او فضیلتونو خبر و او د یزید د خلافت لپاره له هغه ویریدۀ. معاویه د تیر رسم مطابق دا ځل امام حسین(ع) ته څه ونه ویل او د جاهلیت د رسم مطابق له بني هاشمو د هغوي له ټولو مشر عبدالله بن عباس ته ورځي او له هغه ته تمه ورکوي، او له قبیلې یې جدا کړ. معاویه له عبدالله بن عباسه په دې لیدلو کښې وپوښتل: اوریدلي مو دي چې له امام حسنه واړه ماشومان پاتې شوي دي. عبدالله چې د معاویه له باطنه خبر و، ځواب یې ورکړ: مونږ ټول واړه و او لوی شو. معاویه پوښتنه وکړه: حسن (ع) د څو کالو و چې مړ شو؟ ابن عباس ورته وویل: د امام حسن زوکړه له دې ډېره اوچته ده چې د هغې په هکله څوک ځان ناخبره وګڼي. معاویه ابن عباس ته وویل: او د

۸۲. ابن قتیبه دینوری، الامامة و السیاسة، 150 - 148 مخ.

خپل قوم (بني هاشمو) مشر ته يې؟ ابن عباس وويل: تر کومه چې اباعبدالله الحسين(ع) ژوندي دے نو داسې نه ده.

## د معاويه په ژوند کښې اخرنۍ هڅې

معاويه د امام حسن مجتبى(ع) له شهادته وروسته خپل ډېر کار د يزيد د خليفه شونې لپاره په مدينه کښې پيل کړ. هغه ښه خبر و چې تر اوسه مدينه او اسلامي نړۍ کښې ډېر اهميت لري؛ ځکه د همدې ښار مشرانو د وړاندې خليفه ګانو خلافت په تسليمولو سره د هغوي حاکميت ته مشروعيت ورکړې و، د نورو مسلمانانو لپاره يې د اطاعت لار هواره کړې وه. لويو اصحابو او تابعانو لکه امام حسين(ع) او نورو د مسلمانانو تر مينځ لوړ سياسي مقام درلود. هغه د مروان بن حکم د ناکامه کوششونو وروسته په مدينه کښې هغه عزل کړ او د هغه په ځاى يې سيعد بن عاص خپل خاص پروګرام سره چې په مدينه کښې له لويانو د يزيد لپاره بيعت واخلي، ولي وټاکه.
هغه که څه هم يو نوې حاکم د هغه په ځاى وګماره، په خپله يې هم حسين بن علي(ع)، عبدالله بن عباس، عبدالله بن جعفر، عبدالله بن عمرو او عبدالله بن زبير سره يې رابطه پرې نه کړه او خپل ليکونه يې په خاص عبارتونو او خاصو طريقو سره هغه ته راوليږل. او سعيد ته يې حکم کاوۀ چې دا خطونو هغوي ته ورسوه او هر يو کس سره د هغه په مطابق کړۀ وړه لره.
سعيد بن عاص به ښه سختې طريقې سره خلکو ته ازار رساوۀ چې د يزيد لپاره بيعت واخلي. ځينې کسانو يې بيعت وکړ، خو اکثر يې له بيعته منکر وو، په بيله توګه بني هاشمو ولاړتيا وکړه. عبدالله بن زبير هم مخالفت وکړ. سيعد بن عاص په يوۀ ليک کښې معاويه ته ليکي:

خلک یزید سره په بیعت کښې سستي کوي او په بني هاشمو کښې یو کس هم یزید سره بیعت نه دے کړے. عبدالله بن زبیر هم په څرګنده خپله دښمني وښوده. زۀ بغیر له فوځه او کسانو دا کار نه شم کولې. په خپله (معاویه) مدینې ته راشه.[87]

معاویه، عبدالله بن عباس، عبدالله بن زبیر او عبدالله بن جعفر او حسین بن علي(ع) ته لیک ولیکه. او له سیعد بن عاص یې وغوښتل چې دا لیکونه ورورساوه. هغه په یو بل لیک کښې سعید دې ته بللی دے چې خلکو سره په تفکر او سوچ سره او امام حسین(ع) سره په نرمۍ سره خبرې وکړه. د عبدالله بن زبیر په هکله یې ورته سپارښتنه وکړه چې په هوښتیارتیا او ویښتیا سره یې پوه کړه، هغه په خپله هم په خپلو لیکونو کښې دا طریقه خپله کړې وه د مخاطب شان او مقام ته به یې کتل او هماغه رنګ لیک به یې لیکه او سیاست یې دا و چې یا یې تمه ورکوله او یا یې ګواښل.

عبدالله بن عباس ته یې ولیکل: ما ته په دې د عثمان د قتل په الزام کښې چې خلک دې ورته هڅولي و، مړ کولې شوې. خو چې کله هم زما لیک درورسي نو جمات ته لاړ شه او د عثمان په قاتلانو لعنت وکړه او زما حاکم سره بیعت وکړه. چا چې کله څوک وویرول نو بیا خو عذر لري او ته په خپله په ځان ښه پوه یې.

عبدالله بن جعفر ته یې ولیکل: تاته پته ده چې زۀ تا په نورو غوره ګڼم او ستا او ستا د کورنۍ په ښه حسن نظر لرم. ستا په هکله داسې خبر راغلے دے چې زۀ ورباندې خوشحال نه یم. که بیعت وکړې، نو مننه به دې وي او که له بیعه مخ واړوې، نو ورته به مجبور شې.

د عبدالله بن زبیر په لیک کښې یې یو شعر ولیکه چې ښکاره سپکاوې

---

۸۷. هماغه، 153مخ.

يې و. داسې لکه چې ورته وايي چې د خليفه مخالفت کول او د هغه مقابلې کې ودريدل ستا لپاره درنانه دي او ته د خليفه د مخالفت وړتيا نه لرې.

## امام حسين(ع)، د مخالفت له ټولو لوي اړخ

معاويه له نورو زيات خبر و چې په مخالفانو کښې له ټولو زيات مخالف چې بل څارې نه لري هغه امام حسين(ع) دے. له همدې سببه يې هغه حضرت ته په ليک کښې د هغه حضرت مشري او درناوې په نظر کښې وساتۀ او ويې ليکل: "ستا له خوا داسې خبرونه رازي چې هيڅکله مې دا فکر نه کاوۀ چې داسې کارونو ته ګروهنه ولرې، په وفادارۍ کښې له ټولو ښو کسانو هغه چاسره بيعت کړے دے چې په بزرګۍ او شرافت او منزلت کښې ستا په شان دے، نو اوس د خلافت په کار کښې کشمکش مه کوه، له خدايه ووېرېږه او دا امت د فتنې په لور مه راکاږه او د خپل ځان او دين او د محمد(ع) امت خيال وساته" هغه ليک په دې ايت سره سر ته رسولې و: "ولا يسْتَخِفَّنَّکَ الّذِيْنَ لا يوقِنُون".۸۸

امام حسين(ع) هم داسې وخت ته په تمه و نو چې يو داسې وخت په لاس راوړي چې معاويه ته په ځواب کښې له يوۀ طرفه د هغه د حکومت بې لارې او انحرافات او له بلې خوا د پيغمبر(ص) د دين او د هغه کورنۍ سعادت ورته بيان کړي او نه يوازې دا چې د هغه درباريان بلکې د اسلامي ټولنې تاريخي راتلونکې د بني اميه له ظلمونو خبر کړي، نو د معاويه په ځواب کښې يې يو داسې ليک وليکه چې خپلې راتلونکې لار يې ورته وښوده. او د تل لپاره معاويه د هغه ياران هغوي سره له مرستې نهيلې کړل او د هغه ټولې نقشې چې معاويه د علويانو د مرسته لپاره

---

۸۸. روم (30) 60 ايت.

جوړې کړې وې له منځه یوړې:

ستا لیک راورسید. تا لیکلي دي چې زما له خوا درته داسې خبرونه درغلي دي چې تا یې تمه نه لرله او دا ګمان دې کاوۀ چې داسې څیزونه ته ګروهنه ونه لرم. نیکۍ او خیر د خدای په لاس کښې دي. که هغه اراده وکړي نو انسان د نیکمرغۍ په لور بیایي او که اراده ونه کړي نو د هدایت لاره ورته نه نصیبوي، په خپل لیک کښې دې لیکلي دي چې زما له خوا درته څه خبرونه درسیدلي دي. دا خبرې تا مغرضو، جاسوسانو او غلط خبر وړونکیو کسانو دررسولي دي چې هغوي غواړي چې په ټولنه کښې جدايي راولي. دا ګمراه کسان چې له سمې لارې وتي دي په ما پسې دروغ تړي. زۀ د جنګ او اختلاف څه اراده نه لرم، خو ستا او ستا د ملګرو له جنګه چې قاسطین یئ، خدای ته پناه وړم. هغه ظالمان کسان چې ستا په خوا کښې جمع شوي دي، د ظالمانو په ډلې کښې دي او د شیطان ملګري دي. ایا ته د حجر او د هغه د یارانو قاتل نه یې چې هغه زاهدان کسان وو؟ هغوي د بدعتونو د ختمولو او امر بالمعروف او نهي عن المنکر لپاره پاڅون کړے و تا د ظلم او زیاتي په سبب له دې وروسته چې ورسره دې وعده وکړه خپله وعده دې ماته کړه او هغوي دې ووژل او خدای دې ځان سره دښمن کړ.

ایا تا دا دعوا ونه کړه چې زیاد د ابوسفیان زوې دے؛ په داسې حال کښې چې پیغمبر(ص) وفرمایل: "الولد للفراش و للعاهر الحجر.[89] له دې وروسته چې زیاد دې خپل ځان سره وتړۀ هغه دې په خلکو مسلط کړ او په مسلمانانو یې سختۍ شورو کړې او د هغوي لاس او پښې یې پرې کړل او د ونو په څانګو کښې یې اویزان کړل. اے معاویه! داسې ښکاري

---

۸۹. زوې د خپل پلار لپاره دے او بې پلاره یې چې څوک دعوا وکړي هغه باید سنګسار شي.

لکه تۀ له دې خلکو نه وې او دا خلک هم له تا نه وي. ایا ته د حضرمي قاتل نه یې؟ زیاد تا ته خبر درکړ چې حضرمي د علی بن ابی طالب په دین دے، ایا علی د خپل ترۀ زوي (پیغمبر) په دین نه و چې ته اوس د هغه په ځای ناست یې؟ په جاهلیت کښې ستا او ستاسو د پلرونو لوی فخر دا و چې په ژمي او اوړي کښې به یې کاروانونه بوتلل او تجارت به یې کاوۀ. اوس زما د نیکه په برکت په دغه مقام ناست یې او دومره ظلمونه او فسادونه کوې. او اوس ماته په لیک کښې لیکې چې د پیغمبر امت په فتنه کښې ما اچوه! زۀ خو ستا له حکومته بله غټه فتنه نه وینم. په خپل لیک کښې دې لیکلي دي چې د ځان، خپل دین او د پیغمبر د دین خیال وساته. قسم په خدای! تا سره له جهاد کولو بل څه غوره نه ګڼم. که تاسره مې جهاد کولې شوې نو تاسره به جهاد کول زما لپاره یو لوی عبادت و او که نه شم کولې نو له خدایه معافي غواړم او له خدایه د جهاد توفیق غواړم په لیک کښې دې لیکلي دي چې زۀ تاسره مکر کوم نو ته به هم ماسره مکر کوې. نو اے معاویه اوس ماسره مکر او چلونه کوه او څه چې دې زړه غواړي هغه وکړه. له تېرو زمانو راهسې نیکو بندګانو سره مکر شوے دے هیله لرم چې ته به بې له ځانه بل چاته څه ضرر ونه رسوې او خپل ګنده عمل به نابود کړې. اوس چې څومره شیطاني کوې نو ویې کړه. اے معاویه! له خدایه وویرېږه او پوه شه چې خدای یو کتاب لري چې په هغې کښې د واړۀ او لوی ټول عملونه لیکل کیږي. پوه شه چې خدای ته نه یې هیر کړې او ډېر زر به تا ناڅاپه راونیسي او د دې دروغو او تورونو به درنه پوښتنه وکړي. تا اوس یو داسې ماشوم د مشرۍ لپاره ټاکلے دے چې شرابخور دے او سپو سره لوبې کوي. زۀ دا وینم چې ځان او خپل دین دې نابودۍ ته اچولې دے.

له تاریخي روایتونو دا په لاس راځي چې امام حسین(ع) په بیلا بیلو

مناسبتونو سره معاويه په دې باندې ملامته کړے دے چې هغه يزيد د ځای ناستي او جانشين په توګه ټاکي او دا بدعت يې له بيلا بيلو لارو بد ګڼلی دے او د دې د خطرو په هکله يې معاويه ته خبرداری ورکوي په يو بل ځای کښې په يو بل ليک چې هغه معاويه ته داسې ليکي:
بيا دې خپل هغه ځوان زوې چې شرابخور او سپو سره لوبې کوونکے و خپل ځای ناستې وټاکه. نو په خپل امانت کښې دې خيانت وکړ او خپل لاندې کسان دې تباهۍ ته راکاږل او د خپل خدای سپارښتنه دې په ځای رانه وړه. تۀ څه رنګ هغه کس د مسلمانانو مشر کوې چې شراب څښي، سره د دې چې شرابخور له فاسقانو او تبهکارانو دے. هغه شرابخور چې د يو درهم امين نه دے هغه به د امت څه رنګ امين شي؟ ډېر زر به د خپل بد عمل نتيجه ووينې.[۹۰]
امام حسين تل د معاويه د دې بدعتونو لکه د خلافت په اموي قبيلې کښې د ارثي کولو او د يزيد د وړتيا نه لرولو له بيلا بيلو اړخونو څرګندونه کوله او ورسره به يې مخالفت کاوۀ. هغوي په هغه ګډه ناسته کښې چې پکښې عبدالله بن عباس او معاويه هم وو هم د معاويه په ځواب کښې چې کله يې د يزيد د خلافت خبره وکړه نو په غصه کښې يې وويل:
"تا چې د يزيد په هکله څه وويل چې حدکمال ته رسيدلے دے او د محمد(ص) د امت د چلولو توان لري، ما وليدل!! ايا ته د هغه په هکله خلک غولوې؟ لکه چې د يو ناپيژندلي سړي په هکله خبرې کوې يا د يو داسې کس په هکله خبرې کوې چې ترې ډېر خاص خبر يې؟ يزيد خو خپل کړه وړه سره خپل فکر ښيي؛ سپو سره لوبې، کوترو سره لوبې، ډمو سره کښيناستل او ساز او رباب اوري او نور لهو لعب!...".[۹۱]

---

۹۰ . هماغه.
۹۱ هماغه، 293مخ.

امام حسین(ع) خپل دا کردار د یزید د حکومت په هکله وساتئ او د خپل انقلاب دریځ په ادامې کښې یې په بیلا بیلو مناسبونو او وختونو کښې خلک له هغه خبر کړل هغوي د حر بن یزید ریاحي لښکر سره د مخامخیدو په وخت هم په تفصیل سره خبرې کړي دي او خپل دیني پلو او سیاسي، کلتوري او ټولنیز شرطونه یې بیان کړي دي او د خپل انقلاب د ضرورت دلیلونه یې په بیلا بیلو اړخونو ثرګند کړي دي.
هغوي د هغه کسانو په ځواب کښې چې هغه یې له قیامه په دې دلیل منعې کول چې برابر یې نه دے لکه د فرزدق، عبدالله مطیع او عبدالله بن جعفر او نورو کسانو د لیکونو په ځواب کښې خپل دریځ په یقین سره بیان کړ او د یزیدي نظام د فسادونو په ختمولو او د ټولنو د اصلاح لپاره یې ټینګار کړے دے.[۹۲]

۹۲ . دا خبرې په تفصیل سره د انقلاب د فلسفې په برخې کښې بیان شوي دي.